

# د ګړنګونو ګیتار

## ویکتور خارا

ژباړه ویار

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

**هغوی خارا ووژلی شو، خو غږ یې ورته ونشو وژلی.**
جوان خارا د ویکتورخارا مېرمن

# د ګړنګونو ګیتار

# ویکتور خارا

ketabton.com - The Digital Library

**د ګړنګونو ګیتار**

ویکتور خارا

ژباړه:ویاړ

برېښنايي خپرېدنه: زمری ۱۴۰۵

خپرندویه: سیند خپرندویه

---------------------------------------------------------------------------

ketabton.com - The Digital Library

# لیکلړ


ځو خبرې ........................................................................ ۱
ويکتور خارا د انقلاب اواز ................................................... ۲
پولې ړنګې کړئ! .............................................................. ۲۳
متحد ولس به ماته ونخوري .................................................. ۲۵
د «لوئيس اميليو رکابارن» په ياد............................................ ۲۸
د ولس توپانونه ................................................................ ۳۰
ځم................................................................................. ۳۲
ييوه................................................................................ ۳۳
د بزګر غوښتنه ................................................................. ۳۵
د کان د کارګرانو ترانه........................................................ ۳۷
کارګرې........................................................................... ۳۹
کړکۍ پرانيزه!.................................................................... ۴۱
له بيرغونو ډکه اروا............................................................. ۴۳
ځټک ............................................................................ ۴۵
چه‌ګوارا.......................................................................... ۴۸
مانيفست ......................................................................... ۵۱
پرېږده چې ژوند والوزي ...................................................... ۵۳
لکه همدا نن چې تورپوټکي وژني .......................................... ۵۵
د يو ماشوم لپاره لالايي ......................................................... ۵۷
ته مې  په ياده يې، آماندا! ...................................................... ۵۹

ketabton.com - The Digital Library

د چيلي سټډيوم ........................................................ ٦٢
کله چې کار ته ځم ........................................................ ٦٦
کارمينسيتا چا ووژله؟ ........................................................ ٦٩
په سولې کې د ژوند حق........................................................ ٧٢
انجليتا هونومان........................................................ ٧٤
بې‌ځمکې«خوان» ........................................................ ٧٧
راشه په سره‌ور واټ لاړ شوو ........................................................ ٧٩
د رېنا صليب ........................................................ ٨١
انسان پنځوونکی دی ........................................................ ٨٣
بېلچه ........................................................ ٨٥
يوازې څه چې لرم ........................................................ ٨٧
د «ناپاچو» سيند کې ........................................................ ٨٩
«کوچابامبا» ته ځم........................................................ ٩١
لوچين ........................................................ ٩٣
راځرگند شوی ........................................................ ٩٥
د«موبيل» تېلو کمپنۍ ........................................................ ٩٧
د «له‌ويکتوريا» هېرمېندا........................................................ ٩٩
آزاده ترانه ........................................................ ١٠١
کوترې غواړم درته ووايم ........................................................ ١٠٣
د قُلبې ماشوم ........................................................ ١٠٥
«مولينا» ته نور نه ځم........................................................ ١٠٧
د برې سيمې کورونه........................................................ ١٠٩
نه «چيچا» نه «ليموناد»........................................................ ١١٢

ketabton.com - The Digital Library

د «رامونا پارا» غونډ ........................................................ ۱۱۵
اوبدونکې انجلۍ........................................................ ۱۱۷
اووه قفسونه ........................................................ ۱۱۹
د واټونو وانښه........................................................ ۱۲۱
له بېدیاو راغلل........................................................ ۱۲۳
د پوئرتو مونټ په اړه پوښتنې........................................................ ۱۲۵
د کوبا لپاره ........................................................ ۱۲۷
زه پاتې کېږم ........................................................ ۱۳۰
ګاډیوان ........................................................ ۱۳۲
پړی........................................................ ۱۳۴
شا ته راګرځېدلی نشی ........................................................ ۱۳۷
تقریباً ........................................................ ۱۳۹
یو آه مې له زړه وتښتېد ........................................................ ۱۴۱
زما کوچنۍ کوتره........................................................ ۱۴۲
سپوږمۍ همېشه ښایسته ده ........................................................ ۱۴۳
بیېټا ........................................................ ۱۴۵
کوچنی سګریټ........................................................ ۱۴۶
له زاری څه ګټه؟........................................................ ۱۴۸
خط ........................................................ ۱۵۰
د سپو وحشتناکه داړنه پیلوي ........................................................ ۱۵۳
د ویکتور خارا ځینې عکسونه........................................................ ۱۵۶
وطن........................................................ ۱۶۰
زما ترانې........................................................ ۱۶۱

ketabton.com - The Digital Library

ښه اوازونه نه تري‌تم کېږي ........................................................ ۱٦۲
د فرانسوي کارتونيست پلانتو کاريکاتور........................................... ۱٦٤
د ويکتور خارا په ياد .............................................................. ۱٦٥
ويکتور ته ترانه.................................................................. ۱٦۸

ketabton.com - The Digital Library

## څو خبرې

په داسې شرایطو کې چې موسیقي د بازاري او ستم‌پلوه هنرمندانو لخوا ککړه شوې، ښايي د نړۍ پرمختللې او متعهده موسیقي لا زیاته معرفي شي.په همدې موخه مې هڅه کړې چې د چیلي د محبوب او ژمن سندرغاړي، ویکتور خارا، لنډ ژوندلیک او ځینې ترانې وژباړم.

په لومړیو کې مې غوښتل د ویکتور خارا د ژوند په اړه یو څه ولیکم، خو د مریم ناصحي لیکنه راته دومره بشپړه ښکاره شوه، چې له لیکنې تېر شوم.

د دې ټولګې د بشپړېدو لپاره مې د ویکتورخارا ترانې له بېلابېلو سرچینو راټولې کړي دي. هیله‌مندیم دا نیمګړی کار د دې محبوب ترانه ویونکي د پېژند لپاره ګټور تمام شي.

په مینه

ویاړ

ketabton.com - The Digital Library

# ویکتور خارا د انقلاب اواز

**د ډېرو نورو ماشومانو په شان**
**له ماشومتوبه مې خوله تویېول زده کړل**
**نه پوهېدم چې ښوونځی څه ته وايي**
**او لوبېدل یعنې څه!**

**د سهار په خړه یې**
**له کټه راپاڅولم**
**د پلار تر څنګ**
**په کار کې لوی شوم**

د ویکتور خارا لپاره ګواکې ټول شیان له سپټمبر سره ګډ شوي وو. د سپټمبر له ورځو یوه ورځ وه، چې نړۍ ته راغی. د سانتیاګو هوا سړه وه. د سانتیاګو په ژمني یخنې کې، د ښار په څنډې کې، آماندا په سړې او تورتمې جونګړه کې د زېږون درد درلود، د ویکتور د زېږېدنې درد. مانوئل، د آماندا کارګر او بېوزله خاوند، د قابلې په لټه کې و. خو آماندا دومره درد وزغمو چې بالاخره یې ویکتور لیدیو خارا ماتینز نړۍ ته راوړ؛ د ۱۹۳۲ کال د سپټمبر درې وېشتمه وه.

کلونه وروسته، بیا هم د سپټمبر له ورځو یوه ورځه وه چې توپونو او شوبلو د سانتیاګو په واټونو کې پرېډ وهو او د سالوادور آلنده د دولت پر ضد یې د بریالۍ کودتا خبر ورکاوه. د سپټمبر دا ورځ، د هغه بلې په خلاف، دومره سړه نه وه؛ که څه هم د جنرال پینوشې او د هغه تر فرمان

ketabton.com - The Digital Library

لاندی د پوځ په وینو ډکه کودتا، تلله چې پر چیلي د مرګ سوړتیا واکمنه کړي؛ د ۱۹۷۳ کال د سپټمبر یوولسمه وه.

مانوئل، یو دیاړيمار کارګر و. کومه ورځ به یې چې کار وموند، نو یوه مړۍ ډوډۍ به یې له ځان سره کور ته راوړله، خو په کومه ورځ به چې وزګار پاتې شو نو تش‌لاس او په تیټ سر به راستنېدو. آماندا هم البته وزګاره نه پاتې کېده. د کورنۍ د ستونزمن ژوند د تېرولو لپاره، هغې هم هر کار ته اوږه ورکوله. نه یوازې هغې، چې ان شپږ کلن ویکتور هم کار کاوه او له کورنۍ سره یې مرسته کوله. ویکتور لا ماشوم و چې مانوئل کور او کورنۍ پرېښوده؛ په دې هیله چې په کروندو کې کار ومومي او کورنۍ ته پیسې ولېږي. یوه خوشې او بې‌پایه هیله! مګر په کروندو کې څومره پیسې پیدا کولی شوې چې یو څه یې کورنۍ ته ولېږي؛ په تېره بیا چې مانوئل د ژوند په سختو کړلېچونو کې په الکولو هم روږدی شوی و. له څه مودې وروسته دا اړیکه په ناچارۍ پرې شوه او آماندا پاتې شوه او اولادونه یې. نوی ژوند پیل شو. آماندا د ویکتور او د خپلو نورو اولادونو پالنه په یوه ځان په غاړه واخیسته. هغې هیله درلوده چې ماشومان یې د زده‌کړې لاره ونیسي. آماندا له سخت او بېرحمه ژوند سره سره، نرمه او هنرمندانه روحیه درلوده. ګیتار او پیانو یې غږول او د نورو کارونو تر څنګ، هر کله به چې وخت په لاس ورغی او موکه به ورته برابر شوه، د خلکو د ودونو او ویر په مراسمو کې به یې فولکلوریکې ترانې ویلې.

ketabton.com - The Digital Library

ورځې یو په بل پسې تېرېدلې او ستونزمنو کارونو د آماندا دردمن ځان اوبه کاوه. له سهاره تر ماښامه پورې یې کار کاوه چې د خپلې کوچنۍ کورنۍ لګښتونه پرې کړي. کله چې له کاره ستومانه رارسېده بل څه یې نشو کولای، مګر دا چې خپل زوړ ګیتار په څنګل کې ونیسي او خپل اولادونه شاوخوا راټول او هغوی ته ګیتار وغږوي او ترانې ووایي. همدا و چې ویکتور له ګیتار او ترانې سره آشنا شو. آماندا به ګیتار وهو او ترانې به یې ویلې او د ګیتار او ترانو غږ به د ویکتور په وینه کې لکه څاڅکي بهېده. خو افسوس، ستونزمنو کارونو او ملاماتونکي ژوند، د آماندا عمر رالنډ کړ. آماندا مړه شوه؛ په دې وخت کې ویکتور یوازې پنځلس کلن و. ویکتور، نه یوازې خپل مور، بلکې خپله ښوونکې او ګرانه ملګرې او خواخوږې له لاسه ورکړه.

له یوې کوچنۍ بېوزلې کارګرې کورنۍ څخه مور مړه شوې وه او پلار که لا هم ژوندی و، په کار او الکولو کې ډوب و او له خپلو ماشومانو یې خبر نه درلود. خو ویکتور، هغوی (آماندا او مانوئل) هېر نکړل. د آماندا او مانوئل زوي، چې لوي شو او په دې وتوانېد چې ګیتار په څنګل کې ونیسي او ترانه ووايي؛ «ته مې په یاده یې، آماندا!» ویلو سره یې د خپل مور او پلار خاطره تلپاتې کړه. ویکتور دا ترانه اروپا ته د سفر په ترځ کې وویله.د دې ترانې مهربانه راوي په خپله ویکتور و او د دوو ځوانو کارګرو، مېرمن او خاوند، آماندا او مانوئل، کیسه یې په ډېره مینه بیان کړې ده. دا ترانه په کارخانه کې د کارګرانو د لنډې شېبې په دمه کې د مانوئل د لنډې لیدنې لپاره د آماندا له لېوالتیا څخه روایت کوي. مانوئل،

ketabton.com - The Digital Library

د خپل زوي په ترانه کې هغه کارګر نه دی چې د ژوند په سختو پېچلو کې پر ځمکه ولیدلی او الکولو ته یې پناه وړې ده، بلکې هغه مبارز کارګر دی چې د مبارزې لپاره غرونو ته ځي او کله چې د کارخانې زنګ وهل کېږي، هغه هم د نورو ډېرو کارګرانو په شان کارخانې ته نه راستنېږي. آماندا او مانوئل د خپل زوي په ترانه کې تر هسکه پورې ځانګونه وهي او له هغه ځایه خپل کړېدلي زوي ته ګوري. هغوی همدا شان د کارګرو او زیارکښو انسانانو د ستاینې لپاره؛ د خپل زوي ګیتار او ترانو ته په ډېرې حیرتیا او په هیلې او آرزو سره ګوري.

**ته مې په یاده یې، آماندا!**
**کوځه لمده**
**په منډه روانه یې د کارخانې په لور**
**چېرې چې مانوئل کار کاوه.**

**خندا دې پر شونډو**
**باران دې پر زلفو**
**بېغمه بېپروا وې روانه**
**چې مانوئل وګوری.**

ویکتور په ځوانۍ کې لومړی د محاسبې په رشته کې زده کړې پیل کړې، خو ډېر زر له دې کاره لاس په سر شو او مدرسې ته لاړ. غوښتل یې پادري شي. خو څو کاله وروسته له مذهبي اوهامو بېل او دیني مدرسه یې پرېښوده. دې کارونو د هغه هڅانده او سرغړانده او معترض انساني طبیعت ارضا کولی نشو. نو نندارې ته یې مخه کړه او په څنګ کې یې

ketabton.com - The Digital Library

په ترانه ویلو هم پیل وکړ. په دې موده کې ویکتور مخکې له دې چې د خپل زوکړې ښار ته ستون شي او په تئاتر او ترانې کې خپله لېوالتیا څرګنده کړي، څو کلونه یې په پوځ کې تېر کړل. هغه د چیلي او لاتینې امریکې د فولکلور او په تېره بیا د ویولتا پارا، یوپانکو او پابلو نرودا په شان هنرمندانو تر ژورې اغېزې لاندې راغلی و. خو دا آماندا وه چې د ګیتار غږولو او ترانو ویلو سره یې پر ویکتور ډېره ژوره اغېزه درلوده او د هغه د راتلونکي ژوندانه لاره یې هواره کړه. همدې کار (تئاتر او ترانې) د هغه نازک، حساس او سرغړانده طبیعت راضي کاوه. په دې سره یې کولای شول د کارګرانو او زیارکښانو ژوند، د هغوې د ژوندانه کړاونه او رنځونه او ستړې او کوچنی هیلې؛ د ننداري پر ستیج ویسي او په خپلو ترانو کې فریاد کړي.

**د اربابانو ژبه مې زده کړه**
**د مالکانو، د مدیرانو هم**
**په کراتو یې زه ووژلم**
**څکه د دوی په وړاندې مې اواز جګ کړ**

د ۱۹۶۰ لسیزې لومړي کلونه ول چې ویکتور اروپا ته سفر وکړ. د اروپا او امریکې د راک موسیقي په هغو کلونو کې ورځ تر بلې راډیکاله کېدله او د «اعتراض موسیقۍ» نوم یې پر تندي نغښتی و. په چیلي کې هم د موسیقۍ نوې بڼې تجربه کېدلې.د«ایتنی ـللیمانی» او «کویلاپایون» په شان ډلو په موسیقۍ کې د چیلي د کارګري او کلیوالي سیمو خلکو د هېر شویو اوازونو او سازونو د کارولو سره ډېره لېوالتیا درلوده او د هغوی

ketabton.com - The Digital Library

له ژوند او مبارزې څخه یې په موسیقۍ کې کار اخیست. په موسیقۍ کې دا انقلاب، یوازې چیلي پورې محدود نه و، بلکې د لاتیني امریکې پراخې برخې یې تر پوښښ لاندې وې او د دې سیمې په سیاسي او ټولنیز تلاطم کې ریښې درلودې. لاتینه امریکه په دغه لسیزه کې له غورځنګونو ډکه وه. خلکو آرام او آرامتیا نه درلوده او هره ورځ د یو نوي انقلاب او کودتا، چې د وینو ویالې یې تویېولی او ګڼ شمیر خلک یې ډوبول، شاهد ول. ویکتور له دې نارامې وضعې څخه اغېزمن و او رنګ یې ترې اخیست. اروپا ته په سفر کې و چې وې ویل:«**«د اعتراض موسیقي» نور نشي کولای ګټوره وي، ځکه په دې شرایطو کې یې معنی او مفهوم له منځه تللی دی. زما په اند نور باید«د انقلابي اواز»له اصطلاح کار واخلو...یو هنرمند باید د اعتماد وړ پنځوونکي او په پرمختللي بڼه کې باید یو انقلابي وي... هغه څوک وي چې د وسلوالو چریکانو په شان، البته له ولسونو سره د ټینګو اړیکو له لارې، د واکمن نظم لپاره خطرناک وي.»**

ویکتور چې فولکوریکه موسیقي له خپلې مور زده کړې وه، دا یې هم په خپلې زده‌کړې ورزیاته کړه چې له خپل ګیتار او ترانو څخه د ستمګرانو پر ضد او د خلکو د رنځ او بېوزلۍ پای ته رسولو په موخه د یوې وسلې په توګه کار واخلي. په یو ځای کې لیکي:« **وروسته له هغه چې نړۍ ته مې سترګې خلاصې کړې، په خپل هېواد چیلي کې د ټولنیزې بې‌عدالتۍ، بېوزلۍ او بدمرغۍ شاهد یم. همدا لامل دی چې خلکو**

ketabton.com - The Digital Library

**ته د ترانې ويلو اړتيا احساسوم. زه کلک باور لرم چې انسان د خپل ژوند په بهير کې بايد د عدالت لپاره مبارزه وکړي، څو آزاد شي.»**

ويکتور له خپلو هڅاندو ترانو سره کوښښ کاوه چې د چيلي کارگر، زيارکښ او محروم ولس د خپل دوزخي وضعيت پر ضد و هڅوي او د پابلو نرودا په وينا د هغوی خوندي هيلې خروبې کړي. د دې هڅونې لپاره يې سرتېرو ته داسې نصيحت کاوه:

**ای سرتېری**
**ډزې راباندې مه کوه...**
**پوهېږم لاسونه دې رپېږي...**
**مه مې وژنه!**
**زه دې ورور يم.**

ويکتور خپلې لومړنۍ ثبت شوې ترانې په ۱۹۶۶ کال کې خپرې کړې. په همدې کال کې د «کويلا پايون» ډلې سره يوځای شو او د ۱۹۶۹ کال پورې يې د دې ډلې د هنري مدير په توگه فعاليت وکړ. يو کال وروسته، چه‌گوارا په بوليويا کې ووژل شو. ويکتور د چه‌گوارا په وير کې يوه ترانه وويله، خو د ثبت کمپنۍ د مخالفت له امله، په ترانې کې د دې مبارز نوم ته د مستقيمې اشارې شونتيا نه وه. خو سره له دې، دې ترانې د چيلي پر کينو فعالينو او خلکو ډېره اغېزه وکړه. ۱۹۶۹ کال د چيلي دولت پر ضد د سياسي ځواکونو د فعاليت يو ډېر مهم او تاريخي کال و. په دې کال کې د چيلي د کورنيو چارو وزير، پرز زوخوويچ پوليسو ته دستور ورکړ چې د هغو کارگرو او زيارکښو کورنيو د نابودلو لپاره بريد

ketabton.com - The Digital Library

وکړي، چې په «پوئرتو مونټ» کې ځان ته کورونه جوړ کړي ول. د پولیسو په دې جنایتکارانه برید کې د نهه میاشتني ماشوم په ګډون اوه کسان ووژل شول. چیلي قهرجنه وه. ویکتور د دې جنایت په اړه د «د پوئرتو مونټ په اړه پوښتنې» په نامه  یوه ترانه وویله، چې په کې پرز زوخوویچ د یو جنایتکار په توګه معرفي کېده:

**ته ښايي موږ ته ووایئ**
**ښاغلی پرز زوخوویچ**
**چې د بېدفاع ولس ځواب دې ولې په ټوپک ورکړ؟**
**ښاغلی پرز خپل وجدان په تابوت کې ښخ کړ**
**او د سویل یو باران به یې هم لاسونه پرې‌نه‌منځي**

«د پوئرتو مونټ په اړه پوښتنې» ترانه په چټکۍ سره په ټولنه کې مشهوره او پر شونډو زمزمه شوه. ویکتور نور د محرومو خلکو ګران هنرمند و او د چیلي د کارګرې طبقې په زړه کې د یو انقلابي مبارز په توګه یې ځای درلود او همدا کافي وه چې د چیلي ښیي‌اړخه او پانګه‌واله ګوندونه له هغه کرکه ولري. «د پوئرتو مونټ په اړه پوښتنې» د ترانې شهرت لامل شو چې ښیي‌لاسې ډلې، د واکمن نظام ساتونکي، یوه شپه د سړک پر سر پر هغه برید وکړي او وې وهي. د ارتجاع د دې کرغېړن برید په برابر کې، دا د ویکتور لوړه ناره وه چې په چیلي کې یې انګازې جوړې کړې:

**پوښتنه مې دا ده**
**کله مو فکر کړئ،**

ketabton.com - The Digital Library

**چې دا ځمکه زمونږ ده**
**نه د هغه چاچې لویه برخه یې په اختیار ده**

**راځئ آزاد شوو**
**راځئ آزاد شوو**

په همدې کلونو کې له سوسیالیزم سره د ویکتور آشنایي، د هغه پر فکر او ژوند ژوره اغېزه وکړه او د چیلي د کمونیست ګوند سره یوځای شو. د امریکې د متحدو ایالتونو «د خلوت انګړ» باندې د لاتیني امریکې د بدلولو پر ضد د «انقلابی غږ» د هنرمندانو مقاومت، د ویکتور ترانو ته د آزادۍ او عدالت په لاره کې امپریالیستي ضد هویت وروبخښو. هغه به ویل: «**زه په دې باور نه یم چې د انقلابي سندرغاړي معنی یوازې د سیاسی سرودونو له ویلو سره مترادف وي، بلکې انقلابي‌توب د امپریالیزم له داړلو څخه د خلکو د ارزښتونو ژغورل دي.**» په ۱۹۶۹ کال کې، کمونیست ګوند، د سوسیالیستو او د چیلي نورو کیڼ اړخو ډلو په شمول د «ولسي اتحاد» (United Popular) په نامه د یوې ټلوالې بنسټ کېښود. دا ټلواله یو کال وروسته د چیلي د ولسمشرۍ لپاره د خپل نوماند په توګه د سالوادور آلنده په معرفي کولو سره، ټاکنیزو سیالیو کې ورګډه شوه. ویکتور چې تر دې وخته پورې د خپل فعالیت زیاته برخه په تئاتر متمرکزه کړې وه، د دې په پوهېدو سره چې تئاتر د پراخو مخاطبینو په موندنې کې محدودیتونه لري او له موسیقۍ سره کولای شي د ولسي پرګنو سره پراخې اړیکې ټینګې کړي، په ۱۹۷۰ کال کې تئاتر خوشې

ketabton.com - The Digital Library

او ځان او خپلې لمبه وهونکې او هڅاندې ترانې او همدا ډول ګیتار یې د چیلي د بېوزلو خلکو د مخ په ودې انقلابي غورځنګ لپاره وقف کړ.

**ګیتار مې د شتمنو ګیتار نه دی**
**د شتمنو په شان د پستو انسانانو ګیتار نه دی**
**زما ترانې له هغو خوازو راپورته کېږي**
**چې ستورو ته د رسېدنې لپاره ترل کېږي.**

په ۱۹۷۰ کال کې، د چیلي د ولسمشرۍ په ټولټاکنو کې د سالوادور آلنده په بریا سره د بېوزلو انسانانو په زړونو کې د هیلې رڼاوې روښانه شوې. ویکتور هم د ټولنې د نورو ډېرو سوسیالیستو او کيڼاړخو ځواکونو او فعالینو په شان، له سالوادور آلنده څخه ملاتړ وکړ. د هغه په ټاکنیزو سیالۍ کې شتون درلود و او په کراتو یې ترانې وویلې. «موږ به بریالي شوو» معروفه ترانه، ویکتور په همدې وخت کې وویله، چې د چیلي د کيڼاړخو د یووالي په شعار بدله شوه:

**موږ به بریالي شوو**
**ځنځیرونه به له شلېدلو پرته بله چاره ونلري**
**موږ به د یو بل تر څنګ تاریخ په حقیقت بدل کړو**

د سالوادور آلنده بري په ټولنه کې د یو شمېر سیاسي او اقتصادي بدلونونو سربېره، زیاتې کلتوري او هنري پایلې هم له ځانه سره لرلې. هغه وخت، ګڼ شمېر د تئاتر او موسیقۍ ډلې جوړېدې او د هنري برنامو د اجرا لپاره د چیلي بېلابېلو سیمو، عمدتاً کارګر مېشتو سیمو ته به یې

ketabton.com - The Digital Library

سفرونه کول. د «نوي تراني غورځنګ» په شان حرکتونه په همدې وخت کې رامنځته شول. ویکتور د دې نوي حرکت یو تن بنسټ‌ایښودنکی او فعال و. په دې وخت کې د نړۍ د ادبیاتو مهم آثار د ارزانه کاغذونو پر مخ په دومره بیه، چې ان یو کارګر او نیسمتن هم پېرېدلی شول، عرضه کېدل. د هغه کارګر او زیارکښ لیدنه چې لیک او لوست یې کولای شو او په بسونو کې د جک لندن، توماس‌مان، داستایوفسکي یا د مارک تواین داستانونه یې لوستل، د چیلي د هغو ورځو یوه عادي خبره وه. د ښه ژوند شور او شوق ټوله چیلي نیوله وه. انځورګرانو د سانتیاګو پر دېوالونو انځورونه کاږل، شاعرانو خپل شعرونه خلکو ته لوستل، د ننداړې دروازې د ټولو وګړو پر مخ پرانیستل شوې وې؛ او ویکتور هم په هیجان له خپل ګیتار سره د لېوالو ګڼې‌ګوڼې ته ترانې ویلې. خو دا هیجاني ژوند، دا نوی ژوندون، د ټولو نیمګړتیاو او ستونزو سره سره، یوازې دری کاله و او بالاخره د لاتیني امریکې د ټولو دموکراتیکو او آزادي غوښتونکو غورځنګونو برخلیک د چیلي ګرېوان هم ونیو: **کودتا!**

**ترانه د ترانو لپاره نه وایم**
**یا د دې لپاره چې ښه اواز لرم**
**ځکه یې وایم،**
**چې ګیتار مې احساس لري،**
**فکر لري**
**ځکه یې وایم،**
**چې ګیتار مې خاورین زړه لري**

ketabton.com - The Digital Library

**د کوچنۍ کوترې په شان وزرې**
**لکه سپېڅلې اوبه**
**پرتم او ویر سپېڅلی کوي.**

دا ترانه چې «د خارا مانیفست» نوم یې واخیست، د جنرال پینوشې له کودتا څه موده وړاندې ویل شوې وه. د خارا د انګلیسي مېرمنې له قوله ویل کېږي چې ویکتور دمخه پوهېده چې په کودتا کې به ووژل شي او له همدې امله یې خپل «مانیفست» ووایو.
د ۱۹۷۳ کال د سپتمبر په یوولسمه نېټه، ویکتور خارا له خپل کور څخه راووتو څو د خپلې دندې لپاره فني پوهنتون ته لاړ شي. په واټونو کې یو شمېر کسان په منډو منډو یوې خوا بلې خوا تلل. ویکتور له عمومی ور څخه پوهنتون ته ونوت. ټول راغونډ شوي محصلین د پوځ د شوبلو او توپونو مقابلې ته چمتو ول. محصلینو پر پوهنتون د پوځیانو لومړی برید پر شا وتمبو. د ښادۍ کوکارې هوا ته پورته شوې. خو کله چې شوبلې په حرکت شوې او د هغوې اوږدې شپېلۍ د پوهنتون دېوالونه تر هدف لاندې ونیول؛ کله چې لومړنی توغندی وتوغول شو او دېوالونه راوغورځېدل؛ نور د ښادۍ او هلهلې د هغو نارو او اوازونو نښې‌نښانې پر ځای پاتې نشوې. وسله والو سرتېرو بیا یرغل وکړ او دا ځل د پوهنتون انګړ ته راننوتل. هغو کسانو چې لا مقاومت کاوه، ووهل شول، په وینو لت‌پت شول او بالاخره لاس تړلي، په داسې حال کې چې د سرتېرو د ټوپکونو سرې شپېلۍ یې د څټونو تر شا احساسولې، بندیخانو ته ویوړل

ketabton.com - The Digital Library

شول. ویکتور هم د هغوی په منځ کې و. د ویکتور غږ چې له آماندا سره یې فریادوه، غوږونو ته راورسېد:

**ملګریه، زوي دې مور سره درومي**
**وروره، مور دې مور سره درومي**
**پر سره‌ور واټ مور سره درومي**
**د غنمو په کروندو کې مور ټول په بیړه درموو**

**راشه، راشه، راسره راشه**
**راشه، راشه، راسره راشه**
**د توفان ګړۍ رارسېدلې**
**راشه چوپتیا ماته کړه، راشه!**
**راشه، راشه، راسره راشه**
**راشه، راشه، راسره راشه**

ویکتور له زرګونو نورو سیاسي فعالینو سره ونیول شو. کارخانې او د مقاومت ټول مرکزونه بمبار شول. سالوادور آلنده د ولسمشرۍ په دفتر کې د کودتاچیانو د یرغل په وړاندې مقاومت وکړ او د ولسمشرۍ پر ماڼۍ د پوځي شوبلو او الوتکو د درنې بمبارۍ له امله مړ شو. جوان الیسن ټرنر، د ویکتور مېرمن، همدا چې د هغه له بندي کېدو خبره شوه د مرستې لپاره د انګلستان سفارت ته ولاړه؛ خو د انګلستان د سفارت دروازه د نورو هېوادونو د سفارتونو په شان د هغې او د زرګونو نورو انسانانو په مخ، چې د سانتیاګو د وینو له سینده تښتېدلي ول، تړل شوې وه. د پینوشې متحدینو (د چیلي د خونړۍ کودتا سمبالونکي) د کودتا د

ketabton.com - The Digital Library

وروستۍ پردې، يعنې د کارگرې طبقې او د محرومو خلکو د سختو ځپلو انتظار درلود. د هغو خلکو نارې چا نه اورېدلې چې د پوځيانو د مختلفو شوبلو او توغنديو له وحشيانه يرغل څخه تښتېدل.د دموکراسۍ مدافعينو خپل غوړونه بند کړي ول، څو کودتا د محرومو خلکو د وينو په سيند کې او د بنديانو د جوپې پر څپو آرامه شي او ساحل ته ورسېږي.

ويکتور او زرگونه نور کسان يې ملي لوبغالي ته ويوړل. د ويکتور لپاره دا يو عجيبه غوندې حکايت ته پاتې کيده. دا لوبغالی له درې کلونو راپدېخوا د «ويکتور خارا» لوبغالی نومېده، او اوس يې ويکتور هلته وړی و. په دې لوبغالي کې ويکتور خارا لاس تړلی ووهل شو او وډبول شو. هغه کسان چې په دې لوبغالي کې ول او د پوځ د ډله ايزې وژنې ژوندي پاتې شول، کلونه وروسته يې ويل:ويکتور د ټولو شکنجو سره سره، مېړنی او اتل پاتی شو، د يوه ښه ژوند لپاره د مبارزې يو سمبول پاتی شو. ترانې يې ويلې، له نورو سره يې خبرې کولې، تسلا يې ورکوله، د مقاومت او مبارزې روحيه يې هڅوله، ان د سپټمبر د يوولسمې په هغه دوزخي ورځ کې د هيلې رڼا يې بلوله. دا هغه کار و چې ويکتور تل د هغې په هڅه کې و. کله چې ويکتور خارا د «موږ به بريالي شوو» ترانه وويله، د کودتا تالي‌څټو د هغه له دې مېړني حرکت څخه وقهرېدل او ورباندې يې بريد وکړ. ويکتور يې په وحشيانه ډول ووهو. د دواړو لاسونو او د پښتۍ هډوکي يې ورمات کړل او په داسې حال کې چې د خلکو مخې ته يې ودرولی و، فرمان يې ورکړ:«اوس دې گيتار وغږوه، اوس دې ترانې ووايه!» او په دې ډول يې غوښتل چې دا د مبارزې سمبول،

ketabton.com - The Digital Library

دا د هیلۍ سمبول مات کړي. غوښتل یې سپکاوی ورته وکړي، او څو نور سرونه راټیټ کړي چې د عافیت لاره ونیسي. د دغې دوزخي ورځې شاهدان وایي، ویکتور په ماتو لاسونو خپل ګیتار په څنګل کې ونیو او د «موږ به بریالي شوو» ترانې ته یې ادامه ورکړه. څلوردېرش مردکي، څلوردېرش مردکي د انقلاب د ترانه‌ویونکي پر تن تشېږي، چې دا انقلابي ترانه پای ته ونه رسېږي؛ څو د هغو زرګونو انسانانو غږ چې په دغه ورځ او دغه لوبغالي کې له خپل محبوب ترانه‌ویونکي سره دا ترانه ویله، غلی شي؛ څو د کودتا څرخ پای ته ورسېږي.

**موږ پېنځه زره تنه یوو**
**د ښار په دې کوچنۍ برخه کې پېنځه زره تنه**
**څومره نور به په دې ښار کې وي؟**
**څومره نور به په دې هېواد کې وي؟**

**دلته یوازې لس زره لاسونه دي**
**چې کروندې کرلی شي،**
**کارخانې په حرکت راوستلی شي**

**څومره «انسانیت» دې دلته؟!**
**ولږه، یخني،**
**درد، ربړونه**
**اخلاقي فشار،**
**وحشت او جنون.**

ketabton.com - The Digital Library

د ویکتور سوری او شکنجه شوی جسد د ډسمبر په شپاړسمه نېټه د یو ځوان کارګر لخوا پیدا شو. همدا ځوان کارګر و چې د ویکتور له مېرمنې سره اړیکه نیسي او د دې انقلابي او محبوب ترانه‌ویونکي جسد ورته سپاري.

جوان الیسن ټرنر، ویکتور خاورو ته وسپارو او په خپله په پټه له چیلي وتښتېده. که څه هم د کودتا دولت د ویکتور خارا د ټولو ترانو د سېزنې دستور صادر کړ، خو مېرمن یې بریالۍ شوه چې یو شمېر زیاتې ترانې یې له چیلي وباسي او د انقلابي موسیقۍ د نړۍ په اختیار کې کېږدي.

*　　　*　　　*

د ۲۰۰۴ کال په ډسمبر میاشت کې، له کلونو وروسته، د یو چیلیایي قاضي لخوا د ویکتور خارا د وژنې دوسیه پرانیستل شوه. له هغې تر اوسه، د ځینو عیني شاهدانو له شهادت سره سم، د ویکتور قاتل پېژندل شوی دی. ادوین دیمتر بیانچي د کودتا جلاد او له ډارونکي شهرت سره د پوځ یو افسر د چیلي د خلکو د محبوب او انقلابي ترانه‌ویونکي قاتل دی. د اعلام شویو شواهدو له مخې، هغه په ۱۹۷۰ کال کې پانامه ته سفر کړی و او په یو پوځي ښوونځي کې، چې د امریکې لخوا اداره کېده او د لاتیني امریکا پر پراخو پوځونو یې نظارت درلود، پوځي زده کړې پای ته رسولې وې. په دې مرکز کې د چیلي پوځ ټولو محصلانو د چیلي په کودتا او د خلکو په نابودۍ کې ګډون درلود. ادوین دیمتر بیانچي چې «ال لوکو دیمتر» هم نومېدو، مخکې له دې هم د سالوادور آلنده

ketabton.com - The Digital Library

پر ضد په یوې نابریالۍ کودتا کې ګډون کړی و، خو نوموړی او ملګري یې چې له دې ناکامې کودتا وروسته ونیول شول او زنداني کړای شول، ډېر ژر خوشې شول چې په راتلونکي کودتا او د خلکو په وژنه کې خپل رول تر سره کړي. د «ویکتور خارا» له لوبغالي څخه د ژوندي پاتي شویو زندانیانو په وینا بیانچي هومره د انقلاب او مبارزې په اړه له کرکې او قهره ډک و چې ډېر ژر د ګڼ شمېر زندانیانو تر منځ په «سادیزمي» معروف شو. د دې مسما لقب سربېره، په خپله یې هم خوښېده چې «پرنس» یا «شازاده» ونومول شي. بوریس نویا، چیلیایی وکیل، د کودتا د دې جلاد قهر او کرکه داسې بیانوي:«هغه د لوبغالي په بېلابېلو ځایونو کې په ناڅاپي توګه راڅرګندېدو او په وحشت او نارو سره به یې زندانیان ډارول. هغه کټمټ د یو وحشي او ناهیلي لوبغاړي رول لوبو، چې زندانیان ښایي د هغه په شتون کې په بشپړه توګه له ټیټو سرونو سره چوپ وي. هغه په لاس کې د څرمنې یوه قمچینه درلوده او د هغو زندانیانو تر منځ، چې په ساعتونو به په ګونډو ناست ول، د قدم وهلو پر وخت به یې زندانیان پر سر او مخ وهل.» د هغه په اړه دا هم ویل کېږي چې د زندانیانو د کتار مخې ته ودرېدو او چیغې به یې وهلې:«زما غږ اورئ چټلو مارکسیستانو؟ ما ته په ډار سره وګورئ حرمونو، اوس ستاسو د وینا وخت پای ته رسېدلی، یا موږ سره باید کار وکړئ او یا هم باید اعدام شی. زما غږ اورئ؟ دا غږ چې اورئ د پرنس غږ دی.»

د کودتا پرنس، چې د ډېرو شواهدو له مخې د زندانیانو په شکنجې او وژنې کې په نیغه لاس درلود، هېڅکله په رسمي توګه په یوې محکمې

ketabton.com - The Digital Library

کې محکوم نشو او په ناځرگنده دلیل د ۱۹۷۶ کال په ډسمبر کې د چیلي له پوځ څخه تقاعد ورکړای شو. وروسته یې د حسابدارۍ په رشته کې زده کړې وکړې او د پوځ د تقاعد او ځارنې په برخې کې په کار وگمارل شو.دا هم د حیرانتیا خبره ده چې هغه د پینوشې د دیکتاتورۍ پر مهال د هغو امتیازاتو څخه گټه اخیسته، چې د قانون پر بنسټ د بشري حقوقو د قربانیانو د حمایت لپاره تصویب شوي وو. دا قانون په واقعیت کې د هغو کسانو د حمایت لپاره تصویب شوی و چې د پوځي دیکتاتورۍ پر مهال د سیاسي کړنو له امله له خپله کاره لېرې کړای شوي ول او بېرته نه استخدامېدل او یا هم د تقاعد حقوق نه ورکول کېدل. د کودتا جلاد د دې قانون په اساس د کودتا او پوځي دیکتاتورۍ د قربانیانو له مزایاو څخه د ۲۰۰۰ کال تر جولای پورې گټه اخیستله.* سره له دې چې د «پرنس» له پېژندنې څو کلونه تېرېږي او د هغه هویت ښکاره شوی او په چیلي کې سیاسي فعالینو ان د هغه عکس او پته او د تلفن شمېره خپاره کړې دي، څو د ویکتور خارا او د هغو دوزخي ورځو د نور زندانیانو د وژنې له امله د نوموړي د محاکمې زمینه برابره شي، خو د چیلي نوي دولت دې جنایت ته د رسېدنې لپاره لا لېوالتیا نه ده ښودلې. عجیبه دنیا ده:د «پرنس» او د هغه د ښکاره او پټو پلویانو سپکه دنیا او د «انقلاب د ترانهویونکي» او د کارگرو او محرومو خلکو، چې هغه ورته

* د ویکتور خارا او د نورو زندانیانو قاتلان په دې وروستیو کلونو کې په بېلابېلو وختونو کې محاکمه شول. په ۲۰۲۶ کال کې نلسون هاسه مازیې له پنځسو کلونو تېښتې او فرار وروسته د چیلي په سوېل کې ونیول شو او محاکمه شو. پ.ژ

ketabton.com - The Digital Library

ترانې ویلی او لیکلې، پرتمینه دنیا. دوه بېلابېلې دنیاوې په یوه دنیا کې. ښه‌والی د بدوالي په مقابل کې، کار او زیار د شتمنۍ او زېښناک په مقابل کې، انقلاب د ضد انقلاب په مقابل کې! په دې عجیبه دنیا کې، وروستی بری د هغو کسانو دی چې دا دنیا یې پر خپلو اوږو نیولې ده؛ دا وروستی بریا د ویکتور ده چې یوازې یې یو ګیتار درلود او یو ټپي ګوګل او کارګرانو او محرمو خلکو ته له مینې ډک زړه؛ د ویکتور، د سانتیاګو ښار د څنډې د بېوزله کارګرانو (مانوئل او آماندا) د زوي بریا، چې له ماشومتوبه یې خپل زړه د مور للوللو ته سپاره چې د کارګرو او بېوزلو خلکو له غمونو او رنځونو ډک و او دا غمونه د هغه پر کوچني زړه لکه چاړه لګېدل او هغه یې د همدې خلکو د دفاع په موخه راتلونکو جګړو ته چمتو کاوه. په دې عجیبه دنیا کې، ویکتور دی، چې ژوندی پاتی کېږي او ناره یې د تاریخ تر پای پورې په بشري وجدان کې انګازې جوړوي او «پرنس» دی چې له تلپاتې کرکې او نفرت څخه بل څه نه ورپه برخه کېږي.

* * *

دښمن خپله پښه د مېزني پر سر ایښي وه او پر مات شوي ګیتار یې زور کاوه او چیغې یې وهلې:« اوس یې وغږوه! اوس یې ووایه!» ویکتور خپل مات لاسونه پر ځمکې وغزول او مات ګیتار ته یې ورسول. ګیتار یې په څنګل کې ونیو... په ویلو یې پیل وکړ. ګواکې چې د ټولې چیلي اواز یې په غږ کې راټول شوی وي. لوبغالی، او شاید هم ټوله نړۍ، د

ketabton.com - The Digital Library

يوې شېبې لپاره له حرکته ودرېده... او بيا لوبغالي او شايد هم ټولې نړۍ له ويکتور سره ترانه پيل کړه... غليمان په وېره شول. داسې يې تمه نه درلوده. نه پوهېدل چې څنګه ويکتور کولای شي ترانه ووايه هغه هم په ماتو لاسونو او شکنجه شوي ځان سره... بيا يې په قهر او غضب سره چيغې کړې: سرتېرو، چمتو، هدف!... خو خارا لا ترانه ويله او لوبغالي، شايد ټوله نړۍ له هغه سره سم ترانه ويله... سرتېرو، چمتو، هدف!... لمر د «ويکتور خارا» په لوبغالي کې څړيکه وهي او خپلې وړانګې د ويکتور پر لړزندې، خو هيلنې څېرې شيندي.... سرتېرو ډزې! څلوردېرش مرمۍ، څلوردېرش مرمۍ د مېړني پر تن ووربدلې... ويکتور پر ځمکې ولوېد، سره او توده وينه يې پر ځمکې توېيه شوه... خو د خارا د ترانې اواز لا غوږونو ته رارسېږي....

**ترانه هغه کوتره ده**
**چې د ځالې په لټه ده**
**خوشې کېږي، وزرې وهي**
**چې پرواز وکړي، پرواز!**

**زما ترانه يوه آزاده ترانه ده**
**هر هغه چا ته ډالۍ کېږي**
**چې لاس غزوي**
**چې ماشه رپوي**

**زما ترانه هغه ځنځير دی**
**چې نه يې پيل شته نه يې پای**

ketabton.com - The Digital Library

په هره کړۍ کې یوه ترانه ده
د ټولو لپاره یوه ترانه

راځې چې د ټول انسانیت لپاره
ترانه ووایو
ترانه هغه کوتره ده
چې د بیامووندنې لپاره الوزي
ترانه هغه کوتره ده
چې د ځالې په لټه ده
خوشې کېږي، وزرې وهي
چې پرواز وکړي، پرواز!

ketabton.com - The Digital Library

## پولې رنګې کړئ!

پوښتنه مې دا ده
کله مو فکر کړئ،
چې دا ځمکه زمونږ ده
نه د هغه چاچې لویه برخه یې په اختیار ده

پوښتنه مې دا ده
کله مو فکر کړئ
هغه لاسونه چې پر دې ځمکې کار کوي
زمونږ دي
نو حاصل یې هم زمونږ دی

راځئ آزاد شوو
راځئ آزاد شوو
دا ځمکه زمونږ ده
د **پدرو** ده د **ماریا** ده
د **خوان** ده د **خوزه** ده.

ketabton.com - The Digital Library

که ترانې مې ځوروي څوک
که توان د اورېدلو يې نلري څوک
ډاډه ووسئ چې يو يانکي يا لوی ارباب دی

پولې رنګې کړئ!
پولې رنګې کړئ!
دا ځمکه ستا ده
دا ځمکه زمونږ ده
د هغه ده
د **پدرو** ده د **ماريا** ده
د **خوان** ده د **خوزه** ده.

ketabton.com - The Digital Library

## متحد ولس به ماته ونخوري*

متحد ولس به ماته ونخوري
متحد ولس به ماته ونخوري
پاڅه ترانه ووایه:
موږ به بریالي کېږو

د یووالي بیرغونه په رپېدو دي
ته به ما سره یوځای شی په لاریون
ته به وګوری د خپلې ترانې،
د خپل بیرغ غوړېدنه
د ژوند زېرې سره رڼا کوي د سباوون

پاڅه
وجنګېږه
ولس درومي د بریا په لور
ژوند به مو شي نېکمرغه

*متحد ولس به ماته ونخوري، چیلي آهنګ جوړونکي سرخیو اورتګا په ۱۹۷۳ کال کې د هغه شعار له مخې جوړ کړ، چې معترضینو پر دېوالونو لیکو او یا یې په واټو کې د دې شعار نارې وهلې. اورتګا دا ترانه په دوو ورځو کې جوړه او د لومړي ځل لپاره د کیلا پایون ډلې د ویکتورخارا په ملتیا په یو ګڼشمېره کنسرت کې ووېله. دا ترانه د پینوشې په دیکتاتورۍ کې ممنوع شوه.پ.ژ

ketabton.com - The Digital Library

جګ به شي د زرګونو مبارزینو
د شور فریادونه

د آزادۍ سرود به شي فریاد
د نېکمرغۍ د بریا په لار
وطن به شي آزاد
پاڅېدلی مبارز ولس
په لوړ اواز کوي فریاد:
مخ په وړاندې!
مخ په وړاندې!

متحد ولس به ماته ونخوري
متحد ولس به ماته ونخوري
دا وطن دی چې موږ متحدوي
له شماله تر سوېله ولس راپاڅوي

په کار کې متحد ولس
په مبارزه کې متحد ولس
د مالګې له کانونو
ـ معدنچیان،
د سوېل تر ځنګلونو پورې
ـ صیقلوونکي

ketabton.com - The Digital Library

درومي چې وطن بیا ونیسي
ګامونه یې وار دمخه
زېرى
د راتلونکي.

پاڅه ترانه ووایه
ولس درومي د بریا په لور
میلیونونه انسانان حقیقت روښانوي،
چې د ولس پولادي لښکر
پوهه په لاس، عدالت په لاس
د اور په لمبو کې درومي
مېړمنو بلې کړي ډیوې دي
لادمخه له کارګرانو سره
اوږه
په
اوږه
په مېړانه رهي شوي!

ketabton.com - The Digital Library

## د «لوئیس امیلیو رکابارن»* په یاد

په خلاصه غېږ کې درله بږدم مې گیتار
دا د معدنچیانو ښځک
دا د بزگرانو ییوه
رکابارن!
لوئیس رکابارن!
د رڼا دې مندوی یم!

له وږمو،
د ورشوگانو له وږمو سره دې
اواز خوربږي
د بېدیا تر آخره
د سوېل تر آخره.

ای د هیلو تاندې ونې
چې د لمر په زړه کې وزږېږدې

---

*لوئیس امیلیو رکابارن د چیلي د کمونیست گوند بنسټ ایښودونکی و. پ.ژ

ketabton.com - The Digital Library

ثمر دې رارسېږي
د آزادۍ تر بريا اواز کوي:
رکابارن!
لوئيس رکابارن!

ketabton.com - The Digital Library

## د ولس توپانونه

بیا غواړي لژند
د کارګرانو په وینو کړي وطن
چې غرېږي له «آزادۍ»
چې دي یې لاسونه ککړ

بیا غواړي جوړ هغه صلیب،
چې مسیح یې لېږدو
غواړي پټه بدنامۍ کړي د پیړیو
خو مینځلی نشي د قتل و قتال رنګونه
له څېرو،
هغوی چې جلا کوي مور له بچیو.

زرهاو تنو وینه ورکړې لادمخه نذرانه
د څپانده سیند حاصل دوه چندانه
نور غواړم د خپل زوي،
د خپل ورور تر څنګ ژوند وکړم
نور غواړم د ټولو لپاره جوړ پسرلی کړم
نور غواړم له ګردو سره هره ورځ پسرلی کړم

ketabton.com - The Digital Library

ای د بدمرغۍ اربابه!
په ګوانښو مې ډارولی نشې
د ولس توپانونه مې بیایي له ځان سره
د ولس توپانونه مې کاږي له ځان سره
د هیلې ستورې به تل موږ راته ځلیږي!

ای اربابه!
که زړه مې
ټوټه
ټوټه
که تن مې
زندۍ
زندۍ
تر هغه چې مې اروا وي ژوندۍ
تل به وایم ترانې
د ولس د لارې ترانې
اوس به وایم ترانې
بیا به وایم ترانې
د ولس د لارې ترانې.

ketabton.com - The Digital Library

## ځم

ځم ځم د آزادۍ په لټه
هیله مندیم هغه لار پیدا کړم،
چې وربانديې لاړ شم
هیله مندیم هغه لار پیدا کړم،
چې وربانديې لاړ شم.

ستونزمنه ده چې په سیورې کې شي رڼا پیدا
کله چې ځلان لمر د حقیقت رنګ بدلوي
ستونزمنه ده چې په سیورې کې شي رڼا پیدا
کله چې ځلان لمر د حقیقت رنګ بدلوي

زه وختي باید رارسېدلې وای
څومره نور باید لاړ شم؟
څومره نور باید لاړ شم؟
ځم، ځم!
ځم، ځم!

ketabton.com - The Digital Library

## يیوه

يیوه مې نيولې ټينګه په لاسو کې
کلونه دي چې ځمکه ورباندې قلبه کوم
نو ستومانه نشم؟!

پتنګان الوزي
چرچرکې کوي اوازونه
پوټکی می توربړي
لمر ځلېږي
ځلېږي
خوله مې پر تن کاږي ليکې،
زه يې کاږم بېځنډه پر ځمکې.

چې چورت وهم د بل ستوري په اړه
د زړه له تله يم هيلن
راته وايي ناوخته نه دی
کوتره به والوزي.

پتنګان الوزي،
چرچرکې کوي اوازونه

ketabton.com - The Digital Library

پوټکی مې توریږي
لمر ځلیږي
ځلیږي
چې ماښام راستنیږم
په اسمان کې ستورې راځلیږي
راته وایي ناوخته نه دی
کوتره به والوزي
والوزي
والوزي.

د کلک جغ په شان
موټی مې په هیلو ډکوم:
یوه ورځ به هر څه بدل شي...

ketabton.com - The Digital Library

## د بزګر غوښتنه*

پاځه،
غرو ته وګوره
له هغه ځایه چې باد رالګېږي
لمر راڅلېږي
اوبه رابهېږي
ته یې چې د سیندونو لار بدلوې
ته یې چې د خپلې اروا الوتل کرې

پاځه،
لاسونه دې وګوره
پیاوړي دې لاسونه
د خپل ورور په لاسو کې

---

*دا ترانه ویکتور خارا د کلیوالو بزګرو د هڅونې لپاره ویلې. موخه یې دا وه چې بزګران د آزادي بخښوونکې مبارزې لپاره په خپل ځواک او طاقت پوه شي او دې مبارزې ته اوږه ورکړي. دې ترانې په ۱۹٦۹ کال کې د سانتیاګو کاتولیک پوهنتون کې د فستیوال لومړی جایزه وګټله.
کله چې په ۱۹۷۳ کال کې د چیلي په لوبغالي کې د ویکتور خارا د وژل کېدو خبر خپور شو، نو د پوځیانو د کنټرول لاندې د تلویزیون یو کارکوونکي د خطر په منلو سره د دې ترانې یوه برخه د یو امریکایي فلم په موسیقي کې خپره کړه.پ.ژ

ketabton.com - The Digital Library

متحد به په وينو کې ځوو
سبا  به نن جوړو
ومو‌ژغوره له واکمنو،
چې نیستي راکوي
راته راوړه واکمني،

چې برابري راکوي

وچلېږه د درې پر ګلونو لکه سیلۍ
پاکه د اور په شان کړه زما د ټوپک شپېلۍ
پر همدې ځمکه دې غوښتنې پلې کېږي
راته راکړه مېړانه غښتلې د جګړې

وچلېږه د درې پر ګلونو لکه سیلۍ
پاکه د اور په شان کړه زما د ټوپک شپېلۍ
پاځه،
لاسونه دې وګوره
پیاوړي دې لاسونه
د خپل ورور په لاسو
متحد به په وينو کې ځوو
د مرګ تر شپېو!

ketabton.com - The Digital Library

## د کان د کارګرانو ترانه

ځم
راځم
پورته
کښته
هر څه د پانګه‌وال لپاره
هیڅ
زما لپاره.

زه ګارګر
کان ته ځم
مرګ ته ځم

زه کارګر
کیندم
استخراجوم
خوله تویېوم
وینه تویېوم
هر څه د پانګه‌وال لپاره

ketabton.com - The Digital Library

هیڅ
د درد لپاره
د رنځ لپاره.

زه ګارګر
کان ته ځم
مرګ ته ځم

زه کارګر
چیغې د ارباب اورم:
وګوره!
پام کوه!
واوره!

لا څه بد نشته؟!
لا هر څه ښه دي؟!

زه ګارګر
کان ته ځم
مرګ ته ځم
زه کارګر
زه انسان!

ketabton.com - The Digital Library

## کارګرې

هغه ورځ چې مړ شم
ښادي به پای ومومي
څومره خوشاله دي د ستورو په شان کارګرې
راځئ ورسره ونخېړو.

مراسم به وېرجن وي
بازارونه به بند وي
څومره خوشاله دي د ستورو په شان کارګرې
راځئ ورسره ونخېړو.

ښایسته دي
مینه ناکې
څومره خوشاله دي د ستورو په شان کارګرې
راځئ ورسره ونخېړو.

سندرې ووایه د سندرو اربابه
د هیلې په لور روان یم
څومره خوشاله دي د ستورو په شان کارګرې

ketabton.com - The Digital Library

راځئ ورسره ونڅېړو.

که په سختۍ رانبکاره کېږم
تللې يم پټ د قدم وهلو لپاره
څومره خوشاله دي د ستورو په شان کارګرې
راځئ ورسره ونڅېړو.

که په دې سندره پوهېدې
هوساينې ته به رسېدې
څومره خوشاله دي د ستورو په شان کارګرې
راځئ ورسره ونڅېړو.

ناڅاپه راپاڅېږم په څنډه له خوبه
څومره خوشاله دي د ستورو په شان کارګرې
راځئ ورسره ونڅېړو.

ketabton.com - The Digital Library

## کړکۍ پرانیزه!

ماریا!
کړکۍ پرانیزه
پرېږده چې د لمر وړانگې
د کوټې هر گوټ کړي روښانه

ماریا!
دباندې وگوره
ژوند د دې لپاره نه دی
چې ویر یې کلابند کړي
چې سیوری یې کلابند کړي

ماریا!
یوازې
زېږېدل
لوېېدل
مینېدل
د نېکمرغۍ لپاره بس نه‌کوي

ketabton.com - The Digital Library

سختې شپې تېرې شوې
اوس دې سترګې په رڼا ډکې
لاسونه دې په شاتو ډک
په شاتو دې ډک دي لاسونه
ماريا!

ماريا!
د سهار د غوړېدلو په شان
خندا دې په باغونو کې غوړېږي
ماريا!
خندا دې په باغونو کې غوړېږي
د سهار د غوړېدلو په شان

ketabton.com - The Digital Library

## له بیرغونو ډکه اروا*

هلته تر خاورې لاندې
ویده نه یې زما ملګریه، زما وروره
په زړه اوری چې پسرلی رارسېږي
ستا په شان له سیلۍ سره رارسېږي

هلته یې ښخ کړی
مخ دې د لمر په لور
نوې خاوره ستا د بدن په زنې ډکېږي
ریښې دې د ځمکې تل ته رسېږي
د نوې ورځې ګلونه ترې راغوړېږي

ستا تېپي پښو ته به درشي بېوزله لاسونه
پر خاورې به دې وشیندي بذرونه
مړینه به دې کړي سمسور ډېر ژوندونه
ستا لورې ته به درومي په لاریون کې،

*دا ترانه د ۱۷ کلن میګل آنخل آګیله په یاد ویل شوې. هغه محصل، چې د سانتیاګو ښار د کارګري اتحادیې د ۱۹۷۰ کال مې میاشت په لاریون کې پولیسو وواژه.پ.ژ

ketabton.com - The Digital Library

## وایي به سرودونه

چېرې چې پټ شوي جنایتکاران دي
ستا نوم به ورياد کړي شتمنو ته زيات نومونه
چا چې وسېزل ځانګونه دې د پرواز پر مهال
مړ به نشي کړای د بېوزلو قهرېدلي اورونه

وروره!
دلته،
دلته پر ځمکه
زموږ اروا په بيرغونو ډکېږي
د ډار په وړاندې ودرېږي
وروره!
دلته،
دلته پر ځمکه
زموږ اروا په بيرغونو ډکېږي
د ډار په وړاندې ودرېږي
مونږ به بريالي کېږو
مونږ به بريالي کېږو.

ketabton.com - The Digital Library

## ښځتک *

خویندو، ورونو
که ښځتك مې درلودای
هر سهار مې ټکوو
هره شپه مې وهوو
په ټول هېواد کې مې خطر اعلامووو:
موږ د سولې لپاره
باید متحد شوو!

* ویکتور خارا دا ترانه د پیټ سیګر له ترانې څخه په الهام ویلې. که ښځتک مې درلودای، په ۱۹۴۰ او ۱۹۵۰ کلونو کې په امریکې کې د تورپوستکو د ځپلو په غندنه او له هغوې سره د پیوستون په موخه د پیټ سیګر لخوا د نژادپالنې ضد لاریونونو کې وویل شوه.

ما دلته هڅه کړې چې د سیګر ترانه هم وژباړم څو لوستونکي دواړو بڼو ته لاسرسی ولري:

که ښځتک مې درلودای/ سهار مې ټکوو/ ماښام مې هوو/ د دې ټاټوبې په هر ګوټ کې مې د خطر لپاره ټکوو/ د خبردارۍ لپاره مې وهوو/ د دې ټاټوبې په هر ګوټ کې مې د خپلو خویندو او ورونو تر منځ د مینې لپاره ټکوو/ که جرس مې درلودای/هر سهار مې غږوو/ هر ماښام مې غږوو/ د دې ټاټوبې په هر ګوټ کې مې خطر اعلاموو/ خبرداری مې ورکوو/ د دې ټاټوبې په هر ګوټ کې مې د خپلو خویندو او ورونو تر منځ د مینې انګازه جوړوله/ که اواز مې درلودای/ هر سهار مې ترانه ویله/ هر ماښام مې ترانه ویله/ په ټول ټاټوبې کې مې د خطر غږ جګوو/ خبرداری مې غږوو/ د دې ټول ټاټوبې هر ګوټ کې مې د خپلو خویندو او ورونو تر منځ د مینې اواز فریادو/ اوس په دې ټول ټاټوبې کې هم ښځتک لرم/ هم جرس لرم/ هم اواز / د عدالت ښځتک/ د آزادۍ جرس/ او د خویندو او ورونو تر منځ د مینی اواز.

ketabton.com - The Digital Library

که جرس راسره وای
هر سهار مې غږوو
هره شپه مې ټنګوو
په ټول هېواد کې مې خطر اعلاموو:
موږ د سولې لپاره
باید متحد شوو!

که اواز مې درلودای
هر سهار مې ویل
هره شپه مې ویل
په ټول هېواد کې مې خطر اعلاموو:
موږ د سولې لپاره
باید متحد شوو!

اوس په ټول وطن کې
هم اواز لرم
هم ځټک
هم جرس
د برابرۍ ځټک
د آزادۍ جرس
او د سولې اواز
موږ د سولې لپاره

ketabton.com - The Digital Library

باید متحد شوو!
خویندو، ورونو
مورِ د سولې لپاره
باید متحد شوو!

ketabton.com - The Digital Library

## چه‌گوارا*

د آزادۍ د جرس په انګازو کې
راغلی یم چې ترانه ووایم
هغوی جنګیالی وواژه

قوماندان چه‌ګوارا!
برخلیک دې
ځنګلونه
ورشوګانې
غرونه
مورنی ټاټوبی
یا
مړینه.

د لاتینې امریکا په ګڼو هېوادو کې
بشري حقونه ځپل کېږي

---

*دا ترانه په اصل کې د چه‌ګوارا لپاره سېمبا نومېږي. سېمبا د برازیلیانو یو ډوله لرغونې نڅا ده. په حقیقت کې د نڅا یو ډول سبک دې چې بېلابېلې بڼې لري.پ.ژ

ketabton.com - The Digital Library

دیکتاتوران
قاتلان
لومپنان
جنرالان
هره یکشنبې، دوشنبې، سه شنبې
سرتېرو ته د خلکو د ځپلو فرمان ورکوي
او بزرگران
کارگران
معدنچیان استثماروي

ثومره تریخ برخلیک:
ولږه
درد
بېوزلي.

بولیوار* لار وروښوده
چهگوارا په هماغه لارې شو روان
چې آزاد مو ولس کړي
د ښکېلاک له اسارته.

---

* سیمون بولیوار د سویلي امریکې د خپلواکۍ غورځنگ لوی رهبر و، هغه له اسپانیوي ښکېلاک څخه د لاتیني امریکې د څو هېوادونو په خپلواکۍ کې مهم او ټاکونکی رول درلود. پ.ژ

ketabton.com - The Digital Library

کوبا یې په آزادۍ پرتمینه کړه
بولیویا د هغه پر سربښندونکې ژوندانه وېرجنه
بزګران ورته د **لهایګیره** *سپېڅلی ارنستو وايي.

برخلیک دې
ځنګلونه
ورشوګانې
غرونه
مورنی ټاټوبی
یا
مړینه.

*«لهایګیره» په اسپانیوي کې د زیتون ونې ته وايي، خو په بولیویا کې د یو کلي نوم دی چې وېل کېږي چه‌ګوارا همالته ووژل شو.پ.ژ

ketabton.com - The Digital Library

## مانيفست

ترانه يوازې د ترانې لپاره نه وايم
يا د دې لپاره چې ښه اواز لرم
ځکه يې وايم،
چې ګيتار مې احساس لري،
فکر لري
ځکه يې وايم،
چې ګيتار مې خاورين زړه لري
د کوچنۍ کوترې په شان وزرې
لکه سپېڅلې اوبه
وير او پرتم سپېڅلی کوي.
څنګه چې ويولتا* ويل

---

*ويولتا پارا نوميالې چيليايې آهنګ جوړونکې، سندرغاړې او ترانه ويونکې وه. هغې د چيلي ځايي ترانې او شعرونه راټول کړل او بيا يې په خپله داسې ترانې او شعرونه وويل چې نه دوديزه وو او نه کليوال، خو د چيلی خلکو د ورځني ژوندانه ښکارندوې وو. ويولتا پارا په چيلي کې د «نوي موسيقي» د غورځنګ له مخکښو څخه وه، چې په يو ډول د چيلي د فولکوريکې موسيقۍ بيارغاونه او تجدد و. پارا په سانتياګو کې يو کافه جوړه کړه چې په کې ترانه ويونکې، موسيقي کاران او نور خلک راټولېدل. هغې په ۱۹٦۷ کې خپل ژوند ته پای ورکړه. پ.ژ

ketabton.com - The Digital Library

ترانو مې خپله لاره موندلی
ګیتار مې زیارکښه ګیتار
د پسرلي وږمو سره

ګیتار مې د شتمنو ګیتار نه دی
د شتمنو په شان د پستو انسانانو ګیتار نه دی
زما ترانې له هغو خوازو راپورته کېږي
چې ستورو ته د رسېدنې لپاره تړل کېږي.

ترانې مې معنی مومي
کله چې د هغه چا په رګونو کې تېږيږي،
چې د مرګ په شېبه
د لنډمهالې غوره مالۍ پر ځای
د پردي د مخورتیا پر ځای
د ځمکې تر تله
د ګیتار له اواز سره
د رښتینې حقیقت ترانه وایي

چېرې چې هر څه پای مومي
چېرې چې هر څه پیلېږي
زړوره ترانه به همېش
یوه نوې ترانه وي!

ketabton.com - The Digital Library

## پرېږده چې ژوند والوزي

ای کوترې
د اور گلونه دې په تن کی غوړېږي
پسرلی رپېږي، روانېږي
په رگونو کې دې آتشفشان بهېږي
ای زما کوترې.

ای کوترې
وینه مې یوه سکروټه
په تن کې دې ډوبېدل غواړم
د وینې په تل کې دې روانېدل غواړم
ای زما کوترې.

ای کوترې
لمر به ډوب شي ډوب
شپه به راشي راشي
په مینه‌ناکه غېږ کې مې راتاو شه
خولگۍ دې راله په خوله کېږده
پرېږده چې ژوند والوزي

ketabton.com - The Digital Library

ای زما کوترې.

ای کوترې
په تن کی دې اور کوي ګلونه
لمبو مې رغولي دي زرګونه زخمونه
ای زما کوترې.

ای مهربانې کوترې
راځه والوزه په آزاده
هیله مه ورکوه له لاسه
ګل په اوبو کې غړېږي
ای نازکې کوترې.

ای کوترې
لمر به ډوب شي ډوب
شپه به راشي راشي
په مینه‌ناکه غېږ کې مې راتاو شه
خولګۍ دې راله په خوله کېږده
پرېږده چې ژوند والوزي
ای زما کوترې.

ketabton.com - The Digital Library

## لکه همدا نن چې تورپوټکي وژني

لکه همدا نن چې تورپوټکي وژني
پخوا یې **مکسیکویان**، **چیلیان** وژل
**نیکاراګوئیان**، **پیرویان** یې وژل
یانکیان خوشي شوي له غیرانساني غرایزو سره
بېلګامه

څوک یې له ځمکو سره حنجال لري؟
څوک یې ننګوي؟
څوک یې په وړاندې ودرېږي؟
دا د چیلي شوکمار
دا زموږ خواکیین موریته* دی.

یوه ورځ یې ورېښمین آس
له دې لارې تېر شو

* خواکیین موریته د مکزیک د نولسمې پېړۍ اتل دی چې د ستم او جباریت په وړاندې پاڅېد. د ۱۸۴۸ او ۱۸۴۹ کلونو مینځ کې کالیفرینا ته لاړ چې له زرګونو نورو مهاجرینو سره د سرو زرو استخراج کې بوخت شي. خو کوم ستم او ظلم چې د مکزیکي وګړو په وړاندې کېدو هغه یې د ستم په وړاندې مبارزې ته ولسو. پ.ژ

ketabton.com - The Digital Library

اوس
په دې لاره
زموږ برخليک
په تېزه تېرېږي
تمانچه يې
د دوو سرو ريډيو په شان رڼا کوي.

ketabton.com - The Digital Library

## د یو ماشوم لپاره لالايي*

په اوبو کې بهېږي
سپوږمۍ د ښار منځ کې
تر پله لاندې یو ماشوم
د الوتنې خوب ویني

ښار يې د اوسپنې قفس کې بندوي
ماشوم راغتېږي
بې‌له دې چې پوه شي
څنګه ولوبېږي.

څومره نور به وي دا شان ماشومان سرګردانه؟

پيسې هغه څه دي چې مينه ورسره کېږي
څه تريخې ورځې دي چې ته يې نلرئ.

---

*د موپوچو سيند د سانتياګو زړه کې بهېږي. لمن يې په خځلو او ډېرانونو ډکه ده، چې د کوڅه‌ډبو سپو او د بې‌سرپناه ماشومانو هستوګنځی دی. خارا دا ترانه وروسته له هغه وايي چې يوه شپه ګوري چې ګڼ شمېر ماشومانو تر پله لاندې يو بل په غېږ کې نيولي او بيده شوي دي. پ.ژ

ketabton.com - The Digital Library

زویه ویده شه

ځوک به د درد کریکه ونکړي

ژوند ډېر سخت دی

زویه ویده شه

څلور نور ماشومان به دې په څنګ کې پناه واخلي

په اوبو کې بهېږي

سپوږمۍ د ښار منځ کې

تر پله لاندې یو ماشوم

د الوتنې خوبویني.

ketabton.com - The Digital Library

## ته مې  په یاده یې، آماندا!

ته مې په یاده یې، آماندا!
کوڅه لمده
په منډه روانه یې د کارخانې په لور
چېرې چې مانویل کار کاوه.

خندا دې پر شونډو
باران دې پر زلفو
بې‌غمه بې‌پروا وې روانه
چې مانوئل وگوری.

پېنځه دقیقې دمه
دا دمه ژوند و تا ته
ژوند

اشپلاق وهل کېږي
کار ته ستنېدل پیلېږي
ته قدم قدم

ketabton.com - The Digital Library

هر څه روښانوی
پېنځه دقيقې
د ګل په شان دې غړوي

ته مې په ياده يې، آماندا!
کوڅه لمده
په منډه روانه يې د کارخانې په لور
چېرې چې مانوئل کار کاوه.

خندا دې پر شونډو
باران دې پر زلفو
بې‌غمه بې‌پروا وې روانه
چې مانوئل وګوری.

هغه غرونو ته لاړ د جګړې لپاره
هېڅکله يې يو مچ ځورلی نه و
په پېنځو دقيقو کې
هر څه پای ته ورسېدل.

اشپلاق وهل کېږي
کار ته ستنېدل پيلېږي
ډېر بېرته راستانه نشول
څنګه چې مانوئل نشو.

ketabton.com - The Digital Library

ته مې په یاده یې، آماندا!
کوڅه لمده
په منډه روانه یې د کارخانې په لور
چېرې چې مانوئل کار کاوه.

ketabton.com - The Digital Library

## د چیلي سټېډیوم*

موږ پېنځه زره تنه یوو
د ښار په دې کوچنۍ برخه کې پېنځه زره تنه
څومره نور به په دې ښار کې وي؟
څومره نور به په دې هېواد کې وي؟
دلته یوازې لس زره لاسونه دي
چې کروندې کرلی شي،
کارخانې په حرکت راوستلی شي
څومره «انسانیت» دې دلته؟!
ولږه، یخني،
درد، ربړونه
اخلاقي فشار،

*دا د ویکتور خارا وروستۍ ترانه ده، چې له وژل کېدو یوه ورځ مخکې یې د چیلي په لوبغالي کې وویله. د یادونې وړ ده چې دا ترانه له لیکلو وروسته د ویکتور خارا یو ملګري په خپل بوټ کې پټه او بیا یې د هغه مېرمنې ته وسپارله. پ.ژ

ketabton.com - The Digital Library

وحشت او جنون.

شپږ تنه مو ورک په ستورو کې
يو يې مړ شو، يو يې داسې وډبو
چې هېڅکله مې تصور نه کاوه
چې يو انسان دې داسې وډبول شي
څلورو نورو غوښتل له ډاره خلاص شي
يو يې فضا ته په دانګلو سره،
بل يې په دېوال باندې د سر وهلو سره
ټولو پر مرګ سترګې ښخې کړې وې

رښتيا چې د فاشيزم څېره ډېره وحشتناکه ده!
خپلې برنامې په حيله‌ګرانه ځېرتيا پلي کوي
هيڅ څه ورته اهميت نلري
وينه ورته مډال
قصابي ورته د قهرمانۍ نښان

خدايه، دا هغه دنيا ده چې تا پيدا کړې؟
د همدې لپاره د اوو ورځو معجزه او زيار؟!

په دې دېوالونو کې يوازې شمېرې دي
چې بې‌حرکته ژوند کوي
ورو ورو د مرګ هيله کوي.

ketabton.com - The Digital Library

ناڅاپه مې وجدان راوېښنوي ما
دا بې‌بهانده ځپه وينم
د ماشينونو ضربان وينم
هغه سرتېري وينم
چې د مور د مهربانۍ ځېرې په شان
خپلې ځېرې راښکاره کوي
- له احساسه ډکې ځېرې

پرېږدئ چې دا شرم
مکسيکو، کوبا او ټوله نړۍ فرياد کړي
مورې نژدې لس زره لاسونه يوو
چې نور به توليد ونشي‌کړای

څومره نور به زمونږ په شان په هېواد کې وي؟

د ملګري ولسمشر وينه
له بمونو پياوړې ده
له ټوپکو غښتلې
او زمونږ سوکان به بيا بريدونه پيل کړي

آه، ترانې څنګه بدرنګه ښکارې
چې په دې وحشت کې دې بايد ووايم
په هغه وحشت کې،

ketabton.com - The Digital Library

چې په کې ژوند کوم
په هغه وحشت کې،
چې په کې مرم
ځان په هغو بې‌پایه شیبو کې وینم
چېرې چې چوپتیا
چېرې چې فریاد
د دې ترانې اواز دی

څه چې وینم
هیڅکله مې لیدلې نه و
څه چې مې احساس کړل
څه چې احساسوم
د آزادۍ شیبې به له ځان سره راولي...

ketabton.com - The Digital Library

## کله چې کار ته ځم*

کله چې کار ته ځم
ته مې یادېږې
زموږ په لارو کوڅو کې
د خړو کړکیو تر شا چې ځېرې وینم
بې له دې چې پوه شم څوک دي، چېرې ځي
ته مې یادېږې.

زما مینې
ته مې یادېږې
ته مې یادېږې
زما د هرې ورځې یارې
زما د راتلونکو دردمنو شېبو یارې

*د روبرتو آهومادا په نوم د ویکتور خارا یوه کارگره ملگرې په یو لاریون کې ووژل شوه. ویکتور دا مینه‌ناکه ترانه د هغې په ویاړ وویله. پ.ژ

ketabton.com - The Digital Library

د ژوند د خوشاله لحظو یارې

دواړه یوه کیسه پیلوو

بې له دې چې پوه شوو پای یې چېرې رسېږي

کله چې د کار نوبت خلاصېږي

او غرمه خپل سیورې د بامونو پر سر غزوي

او زه کور ته له کاره راستنېږم

او له ملګرو سره د اوسنیو چارو په اړه

د راتلونکي برخلیک په اړه بحث کوو

له یوبل سره دلایل وایوو

نو ته مې یادېږی

زما مینې

ته مې یادېږی

ته مې یادېږی

زما د هرې ورځې یارې

زما د راتلونکو دردمنو شېبو یارې

د ژوندانه د خوشاله لحظو یارې

دواړه یوه کیسه پیلوو

بېله دې چې پوه شوو پای یې چېرې رسېږي

کله چې کور ته رارسېږم

ته په کور کې

ketabton.com - The Digital Library

دواړه خپلې رویاګانې سره اوبدو
دواړه یوه کیسه پیلوو
بې‌له دې چې پوه شوو پای یې چېرې رسېږي.

ketabton.com - The Digital Library

## کارمینسیتا چا ووژله؟*

له ښکلو اتو شوو جامو سره لاړه
له اندېښنو رپېږي
اوښکې يې تويېږي
لېرى چېرې جرسونه وهل کېږي
سپي انګولاوې کوي
پارکونه تورتم
ښار بيده.

يوازې پينځلسه کلنه وه،
چې ژوند يې مړاوى شو
په کور کې ځپل شوې،
په ښوونځي کې ستومانه

* دا ترانه د ټولنيزو رسنيو د ويجاړونکي رول په اړه ليکل شوې. د نورو هېوادونو په شان چيلي کې هم ورځپاڼې، راډيوګانې او تلويزيونونه د څو توکميزه شرکتونو لخوا چلول کېدل، چې پر ذهنيتونو، په تېره بيا د ځوانانو په فکر او اند يې ويجاړونکې اغېزه درلوده. د مخدره توکو ورود يوه لويه ستونزه وه، دې روږدېدنې ډېرې ځوانان او پېغلې ځانوژنې ته اړ کړل، چې يوه يې کارمينسيتا وه. پ.ژ

ketabton.com - The Digital Library

د راډيو له سندرو سره يې زړه دربېږي
د ورځې په بُتانو يې سترګې برېښېږي
په مجلو کې د خيالونو آرامه قاچاقچيان
چې له ځوانانو په ګټنه چاقېږي
د پېغلو هيلي منحرفوي، زلميانو ته دروغ وايي
د خوشالۍ شراب، مينه و خيال و هوس ورته پلوري.

يوازې پېنځلسه کلنه وه،
چې ژوند يې مړاوی شو...

وتښتېدله،
کارمينسيتا مړه شوه
له څنګو يې سور ګلاب وينه وکړه
لاړه چې خپله وروستۍ رويا پيدا کړي

نه پوهېده
چې مسمومه شوې
د ماري جوانا نړۍ
د لامبو حوضونه
د برينيف انټرنيشنل* سره د نيکمرغۍ په لور سفرونه
ټولې يوازې ورله افسانې وې

* د امريکې هوايي کرښه، چې په چيلي کې يې فعاليت کاوه.پ.ژ

ketabton.com - The Digital Library

نړۍ يې هلته وه،
د «پيلا» ولسوالۍ هاخوا
کندوکپرې کوڅې
شور ماشور
تنګ، کوچنی کور
او په پخلنځي کې مرسته

کله چې مړه کېده
د نورو شتمني لا زياتېده

ورځپاڼو وليکل:
د مړينه علت،
نا معلوم....

وتښتېدله،
کارمينسيتا مړه شوه
له ځنو يې سور ګلاب وينه وکړه
لاړه چې خپله وروستۍ رويا پيدا کړي.

ketabton.com - The Digital Library

## په سولې کې د ژوند حق

د ژوند حق
هغه پیغام دی
چې شاعر هوشي‌مین* یې
له ویتنامه ټول بشریت ته ورکوي

هیڅ توغندي ونشو کړای
ستا د شولو په کروندو کې
د قُلبې لیکې ویجاړې کړي
سوله‌ایزه ژوند زموږ حق دی.

د ستر سمندر هاخوا
په هندوچین کې،
چېرې چې ګلونه منفجرېږي په نسل‌وژنه
په ناپالم بمونه
سپوږمۍ هغه انفجار دی
چې ټول شورماشور ذوبوي

* هوشي‌مین د ویتنام د آزادي بخښوونکي غورځنګ لارښود، چې د کاکا «هو» په نامه هم مشهور و. پ.ژ

ketabton.com - The Digital Library

سوله‌ایزه ژوند زموږ حق دی.

کاکا «هو» زموږ ترانه
د سپېڅلې مینی اور دی
یوه کوتره د کوترې له ځالې
یوه ونه د زیتون، د زیتون له بڼه
یوه نړیواله ترانه
هغه ځنځیر چې بریا به راولي
سوله‌ایزه ژوند زموږ حق دی.

ketabton.com - The Digital Library

## انجلیتا هونومان*

د **پوکونو** دره کې
چېرې چې سیلۍ سیندونه نځوي
چیرې چې بارانونه خزې زرغونوي
انجلیتا هونومان ژوند کوي

د زرغونو ځېړیو او شرغشو تر منځ
د سنځلو او دارچینو د ونو تر منځ
د چیلکا** د عطرونو تر منځ
انجلیتا هونومان ژوند کوي

* انجلیتا یو بزګره او د ماپوچی له سورپوټکو وه، چې د چیلي په سوېل د غونډیو، سیندونو او آراکو ځنګلونو کې ژوند کاوه. ویکتور خارا له دې سیمې سره ځانګړی مینه درلوده، یوځل چې هلته یې سفر کړی و، ناڅاپي د انجلیتا کوچني کور ته ورځي او له دې وروسته د دواړه تر مینځ دوستي پیلېږي.
انجلیتا دغه وخت یو ښایسته ځادر اوبدو چې ویکتور خارا ته یې ښکاره کړ او ورته یې وویل چې په کروندو کې د کار له امله یې اوس نشي اوبدلی خو په ژمی کې به یې خلاص کړي. په ژمي کې انجلیتا ځادر واوبدو او ویکتور خارا ته یې ورکړ. ویکتور خارا هم دا ترانه هغې ته وویله. د یادونې وړه ده، چې هونومان د چیلي د سورپوټکو د یوې قبیلي نوم دی.پ.ژ
** چیلکا یو ډول ونه ده. پ.ژ

ketabton.com - The Digital Library

انجلیتا پېنځه سپي
یو زوي ساتي
- چې د خوشې شوې مينې يادگار يې دی
او نړۍ يې د هغې د شاوخوا د ساده کروندې په شان

د شمندريزو گلونو سره وينه یې
په هونوماني وينه کې بهېږي
د کړکۍ د رڼا تر څنگ ناسته خپل ژوند اوبدي
د کوچنۍ مرغۍ د وزرو په شان
لاسونه يې پر تار نخښږي
د گلونو عطر ان اوبدي
د يوې معجزې په شان

انجلیتا ستا په اوبدنې کې
خوله اوبدل شوې
اوښکه اوبدل شوې
ژوند اوبدل شوی
د زيارکښو بېوزلو انسانانو لاسونه اوبدل شوي

له څو مياشتو کار وروسته
څادر يې پېرېدونکی غواړي
او په قفس کې د يوې بندې مرغۍ په شان
د لوړې بيې لپاره سندرې وايي

ketabton.com - The Digital Library

د زرغونو ښېړيو او شرغشو تر منځ
د سنځلو او دارچينو د ونو تر منځ
د چيلكا د عطرونو تر منځ
انجليتا هونومان ژوند كوي.

ketabton.com - The Digital Library

## بې ځمکې «خوان»

د هغه چا لپاره ترانه وايم چې جګړې ته لاړ
په غرونو کې د زخمي بدن سره قدم وهي
چې خپله ځمکه بيا ونيسي

زه ورسره په جګړه کې
د مردکيو په باران کې آشنا شوم
د يو انقلابي غونډې
هر چېرې چې وغواړي هغه ومري
مري

جنرال ويل:
«په مېړانه وجنګېږئ
يوه ټوټه ځمکه به درکړو
کله چې د ځمکې ويش بيا پيل شي.»

پلار مې د کروندو دياړي‌مار و
زه يو انقلابي

ketabton.com - The Digital Library

زامنو مې یوه هتۍ پرانیسته
او لمسی مې د دولت مامور شو
ایمیلینو زاپاتا* ناره کړی:
«زه ځمکه غواړم
زه آزادي غواړم»
خو دولت چې ښخوو هغه
پر دې نارې یې ورته خندلې
ای کوچنۍ کوترې
والوزه،
والوزه
د انځر په ونه کښېنه
دلته نوره ترانه پای ته رسېږي
د بې‌ځمکې«خوان» ترانه پای ته رسېږي.

---

* زاپاتا د «ځمکې او آزادي» له شعار سره د مکزیک د دهقانی انقلاب لارښود و. پ.ژ

ketabton.com - The Digital Library

## راشه په سره‌ور واټ لاړ شوو

راشه، راشه، راسره راشه
راشه، راشه، راسره راشه
راشه په سره‌ور واټ لاړ شو
راشه نوې برخلیک به وزېږوو
راشه!

راشه، راشه، راسره راشه
راشه، راشه، راسره راشه
د ځمکې زړه کې به له ګلونو وغوړېږو
راشه!

کرکې شا ته ځه!
هیڅکله مه راستنېږه
د سیند په لور درومه
ستا ترانه
سیند،
لمر

ketabton.com - The Digital Library

او

باد

ستا ترانه

هغه مرغۍ چې د سولې زېرى وركوي

ملگريه، زوي دې موږ سره درومي

وروره، مور دې موږ سره درومي

پر سره‌ور واټ موږ سره درومي

د غنمو  په كروندو كې موږ ټول په بيړه درموو

راشه، راشه، راسره راشه

راشه، راشه، راسره راشه

د توفان گړۍ رارسېدلې

چوپتيا ماته كړه

راشه، راشه، راسره راشه

راشه، راشه، راسره راشه

ketabton.com - The Digital Library

## د رڼا صلیب*

چېرې چې کامیلیو ولېد
هلته یو صلیب وزېږد
د لرګي نه
د رڼا صلیب.

کامیلیو یې ووژو
چې ټوپک یې راوړو
کامیلیو مري
د ژوندون لپاره مري.

وایي له ډزو وروسته
یوه ناره واورېدل شوه
خدای ناره وهله:

* دا ترانه کامیلیو تورس ریستریپو (۱۹۲۹ـ ۱۹٦٦) ته ویل شوې. هغه یو روحاني کلمبایي مارکسیست لنینیست و،چې د ملی آزادي بخښوونکي غورځنګ غړی و. کامیلیو هڅه کوله چې کاتولیکیزم او انقلابي مارکسیزم سره نژدې کړي.
د یادونې وړ ده چې دا ترانه او موسیقي یې د دانیل وګلیتی ده، چې ویکتور خارا هم ویلې ده. پ.ژ

ketabton.com - The Digital Library

انقلاب!

جنراله د کلیسا جامو ته یې گوره
روحاني هم د چریکانو منځ کې جنگیږي

په ډزو سره یې مبخ کړ د صلیب په شان
یاغي یې ورته وویل
ښنگه یې چې عیسی مسیح ته ویل

کله چې راکښته شول
چې وسله یې واخلي
وې لیدل چې ښار کې
سل زره تنه د کامیلیو په شان دي
سل زره کامیلیو
د جگړې لپاره چمتو

کامیلیو مري
د ژوندون لپاره مري.

ketabton.com - The Digital Library

## انسان پنځوونکی دی

د ډېرو نورو ماشومانو په شان
له ماشومتوبه مې خوله تویېول زده کړل
نه پوهېدم چې ښوونځی څه ته وايي
او لوبېدل یعنې څه!

د سهار په خړه يې
له کټه راپاڅولم
د پلار تر څنګ
په کار کې لوي شوم

ما په مهارت سره
ترکاڼي، ګچکاري
خشتمالي، نلدواني
او جوشکاري وکړه

لعنتي!
څه د سترګې په رپ کې هر څه تېر شول

ketabton.com - The Digital Library

څومره به ښه وای چې درس مې ویلی وای
ځکه د ټولو تر منځ
انسان پنځوونکی دی

زه کورونه آبادوم
واټونه جوړوم
شراب مزه‌داروم
د کارخانو لوګي جګوم
د ځمکې تل ته کوزېږم
لوړې څوکې اېلوم
د ستورو تر منځ قدم وهم
په ځنګله کې لارې جوړوم

ما د اربابانو ژبه زده کړه
د مالکانو، د مدیرانو هم
په کراتو یې زه ووژلم
ځکه د دوی په وړاندې مې اواز جګ کړ

خو زه له ځمکې بیا راپورته کېږم
ځکه د ولس لاسونه راغځېدلي
زه نور یوازې نه یم
موږ بې‌شمېره انسانان یوو اوس!

ketabton.com - The Digital Library

## بېلچه

بېلچه یې راکړه
چې د ځان لپاره مې
تل وربانديې پام وي
کله یې ورکه نکړم
ځمکه ورسره اوبه کړم په آرامۍ،
آرامۍ

کله چې زلمی شوم
بېل یې راکړ
چې کلک پایبېل کړم
د ځمکې کوکارې جگې کړم په آرامۍ،
آرامۍ

وې ویل
بېل درسره د لارو په اوږدو کې وړه
ځنگه چې دې برخلیک وړی
کار درته پرتمین وي باید
کار به ډوډۍ درکړي

ketabton.com - The Digital Library

بېل درسره د لارو په اوږدو کې وړه په آرامۍ
آرامۍ

نور مې بدن د کلونو جغ وړلی نشي
د هر څه لپار چې مې زيار ايستلی
ټول يې له ما اخيستي په آرامۍ،
آرامۍ

تو لعنت شه په دې تور ژوندون
چې بايد يې وې‌زغمم
خو توره شپه به شي رڼا په آرامۍ،
آرامۍ

لاره پرانيزه
برخليک دې قلبه کول دي
د کرلو ښادي څوک له تا اخيستی نشي
دا ښادي يوازې ستا ده
د بل چا کېدای نشي.

ketabton.com - The Digital Library

## يوازې څه چې لرم

راته ویلی شئ
څنګه وانګېرم
چې دې نړۍ کې
کوم ځای ونلرم

لاسونه، یوازیني څه دي چې یې لرم
لاسونه مې مینه،
لاسونه مې ژوند دی

د تللو کور نلرم
پلار می له دې ځایه لېری
مور مې له دې ځایه لېری
لېری له هغو ستورو لېری

لاسونه، یوازیني څه دي چې یې لرم
لاسونه مې مینه
لاسونه مې ژوند دی

ketabton.com - The Digital Library

راته ویلی شئ
ځنګه مین شم
کله چې دې دنیا کې کوم ځای ځیګی نلرم

لاسونه، یوازیني څه دي چې یې لرم
لاسونه مې مینه،
لاسونه مې ژوند دی.

ketabton.com - The Digital Library

## د «ناپاچو» سیند کې

د ناپاچو سیند کې پیشوګان مري
خلطې اوبو ته ورګوځاري
خو په «پیلاسیون» کې
- په توپان کې
د سپو
د پیشګانو
د خلکو
جشن لا تود دی
وایي په داسې وخت کې
بهتره ده سړی وخاندي
او د چکړو تر مینځ
بیر وڅښي.

یو ماشوم په توپان کې لوبېږي
داسې ښيي چې د یوې ړنګې بېړۍ ماڼو دی
موږ ماشومان، مېزونه، دېوالونه له بېړۍ راکاږو
آسمان مو ډارولی نشي
باران لا په شړق ورېږي

ketabton.com - The Digital Library

څه مې چې رښتیا ډاروي
داسې نه چې یو وخت راورسېږي
نور مې مینه په خپل غېږ کې ونه‌نیسي

لالهانده سیلۍ د کورونو دروازې ډبوي
لالهانده اوبه د کورونو ورونه ټکوي
هغه چې کار کوي
هرکلی یې نه کوي
څومره به ښه وای
چې هغه  وخت رارسېدلی وای
چې په دې شیانو مو خندېدلی وای.

ketabton.com - The Digital Library

## «کوچابامبا» ته ځم*

(مورې «کوچابامبا» ته ځوو، وروره!)

«کوچابامبا» ته ځم
«کوچابامبا» ته
ښاغلیو،
بلبلان به وغږېږي
زه «کوچابامبا» ته ځم.

«این‌تي»* دلته دی
«این‌تي» هلته دی
«این‌تي» په شمال کې دی
«این‌تي» په لوېدیځ کې دی
پر سی.آی.ای پام لرئ
چینجي راروان دي

---

* په بولیویا کې د یو ښار نوم دی، چې په ډېرې شونتیا رژی دبره هلته نیولی شوی و.
** این‌تي پدرو د بولیویا یو مارکسیست – لنینیست و، چې په ۱۹۷۶ کال کې له چه‌گوارا سره یوځای د امریکې د لاسپوڅو په وړاندې جنګېده. پ.ژ

ketabton.com - The Digital Library

شاید «رژی»* ونه‌وژني
راځئ چې ځوو، وروره!

ګوره ګوره ترې ورک شول
ګوره ګوره رابښکاره شول
ګوره ګوره دروغ یې ویل
چې چریکي جګړې پای ته رسېدلي

وینه دې وشینده توره انسانه
زه «کوچابامبا» ته ځم
«کوچابامبا» ته
ښاغلیو،
بلبلان به وغړېږي
زه «کوچابامبا» ته ځم.

---

* رژی دبره (Regis Debray) فرانسوي لیکوال او د فلسفې استاد و، چې د چه‌ګوارا سره په بولیویا کې یوځای جنګېدو او په چیلي کې یې د سالوادور آلنده د حکومت ننګه او ملاتړ کاوه. له هغه وروسته چې چه‌ګوارا بولیویا ته لاړ، دبره هم ورسره یوځای شو. په ۱۹۶۷ کال کې چه‌ګوارا د سی.آی.ای لخوا ونیول شو، له هغه وروسته ډېر ژر رژی دبره هم د بولیویا په یو کوچني ښار کې ونیول شو او په دیرش کاله بند محکوم شو، خو درې کاله وروسته د نړیوال فشار له امله خوشې او لومړی چیلي ته لاړ، خو د سالوادور آلنده د سوسیالیستي حکومت پر ضد د پینوشې له کودتا وروسته فرانسې ته راستون شو. پ.ژ

ketabton.com - The Digital Library

## لوچین*

د بادیوې په شان مهین
د «بارانکاس» پر بامونو
کوچنی لوچین
شنه یخ‌وهلي لاسونه
له غونډوسکي
له پیشو
له سپي سره لوبېده
آس ورته کتل

شنه رونتیا یې د سترګو په اوبو کې لمبېږي
په ختیو لړلو کوناټو سره
د خپل لنډ ژوند په لور خاپوړې کوي
درومي

کوچنی لوچین
له غونډسکي

---

*د ا ترانه د لوچین په نامه د یو دوه کلن ماشوم د ژوند په اړه ویل شوې ده.لوچین له خپلې کورنۍ سره د سانتیاګو ښار په څنډو کې اوسېدو. پلار یې یوه آس‌ګاډۍ لرله چې د غلا کېدو له ډاره یې آس په هغه کوټه کې ساته، چې دوی په کې په خپله ژوند کاوه. لوچین، له یو غونډسکي، یو سپي، یو پیشو او دې آس سره لوبې کولې. دا د یو بېوزلي ماشوم په توګه د هغه ټوله دنیا وه. پ.ژ

ketabton.com - The Digital Library

له پیشو
له سپي سره لوبېده
آس ورته کتل

په دغه تنگې خونې کې
آس ته دا یوه لوبه وه
داسې ورته برېښېده
چې له کوچني لوند لوچین سره
له غونډسکي
له پیشو
له سپي سره خوښ دی

که د لوچین په شان وي نور ماشومان دلته
چې خاورې خوري، چینجي خوري
نو راځی ټول قفسونه خلاص کړو
چې دوی د مرغانو په شان والوزي
والوزي
له غونډسکي
له پیشو
له سپي
له آس سره والوزي.

ketabton.com - The Digital Library

## راښرګند شوی*

په غونډۍ کې لار پرانيزي
پر باد پَلونه پرېږدي
عقاب يې له ځان سره الوزوي
چوپتيا پناه ورکوي

هېڅکله يې سر له يخنۍ ونه ټکو
هېڅکله يې سر له ستومانتيا ونه ټکو
بېوزلي يې د تېرېدلو اواز احساسوي
په ټوله مانا يې پيروي کوي

منډه! منډه! منډه!
هلته، دلته
منډه! منډه! منډه!
غواړي ودې وژني
منډه! منډه! منډه!

د کارغانو په طلايي منګولو يې
سر برباد شو

*ويکتو خارا دا ترانه چه‌ګوارا ته ويلې ده. پ.ژ

ketabton.com - The Digital Library

وګوره څنګه د ظالم له کرکې سره
مصلوب شوی

د پاڅون بچی دی
څلوېښت تنه پسې څارېدل
غوښتل یې وې وژني
څکه ژوند یې ډالۍ کړی و

منډه! منډه! منډه!
هلته، دلته
منډه! منډه! منډه!
دلته، هلته
غواړي ودې وژني
منډه! منډه!
هلته، دلته
دلته، هلته.

ketabton.com - The Digital Library

## د«موبیل» تېلو کمپنۍ*

د چیلي او لاتینې امریکا محصلینو
د «ماتریینډیا» په بڼکلي بڼ کې
د شتمنو، ډیناسورانو پر ضد لاسونه یو کړل
بالاخره دې انقلابي ځوانانو غږ کړې:
نور بس دی
بس دی!

شوبلې راورسېدلې
شا ته یې پولیسان
د فلجولو نارینجکونو سره
د ګنې‌ګونې د خپرولو لپاره
د خندولو نارینجکونو سره
آه، څومره رېړونکي دي
دا چریکان!

د منځني ښوونځیو زده‌کوونکي

* Mobil د نفتو امریکایي کمپنی وه چې په ۱۹۹۹ کال کې د Exxon سره مدغمه او ExxonMobil رامنځته شو. پ.ژ

ketabton.com - The Digital Library

د پوهنتون محصلان

د کارگرې طبقې له ځوانانو سره یوځای انقلاب غواړي

په پوهنتون کې

د سمون لپاره جنگیږي

د نیکمرغۍ او د هیواد لپاره جنگیږي

له پوهنتونه نارې وهي:

مونږ سمونپاله

مونږ انقلابیان

مونږ د امپریالیزم ضد ځوانان یوو.

ketabton.com - The Digital Library

## د «لەویکتوریا» هېرمېندا*

د لەویکتوریا
ـ هېرمېندا
بې‌جګرې مړه شوه
له غلبېل شوې سینې سره
سیده اسمان ته لاړه

د پولیسو مردکیو
دا بې‌ګناه انجلۍ ووژله
میندې او ورونه
او ټول ولس ژړېده

ټول د دې بېوزلې انجلۍ ورونه شول
له لېوانو سره جنګېدل
د سرپناه لپاره جنګېدل

* «لەویکتوریا» د چیلي د سانتیاګو په څنډه کې هغه ښارګوټی دی، چې بېوزلو خلکو په کې ځمکه په زوره ولکه او کورونه یې په کې جوړ کړل. د دې ښارګوټي هستوګنو دوه مهمې مسئلې ننګولې: لومړی د دولت دیکتاتوري، چې هر څه وخت وروسته به ځارندوې پر دې ښارګوټي حمله کوله او د هوایي ډزو په ترڅ کې به یې بېوزله خلک وژل، کوچنۍ هېرمېندا د دې قربانیانو یوه تنه وه. د دې تر څنګ د نیولیبرالیستی اقتصاد په چوکاټ کې د ودانیو او ښارګوټو د جوړونې موډل ننګول ول، چې په ځای یې هستوګنو له ارزانه او فقیرانه کورونو سره «له ویکتوریا» ودان کړ. پ.ژ

ketabton.com - The Digital Library

د لەویکتوریا

ـ هېرمېندا

د ختېو په مینځ کې وزیږېدله
په یوه ټوټه ولکه شوې ځمکې کې
د پتنگې په شان لویه شوه

موږ خپل کورونه جوړ کړل
دا دریم ژمی دی چې وریږي
موږ به ستا یاد هېرمېندا
تل په زړونو کې ژوندی ساتو.

ketabton.com - The Digital Library

## آزاده ترانه

ترانه هغه کوتره ده
چې د ځالې په لټه ده
خوشې کېږي، وزرې وهي
چې پرواز وکړي، پرواز!

زما ترانه یوه آزاده ترانه ده
هر هغه چا ته ډالۍ کېږي
چې لاس غزوي
چې ماشه رپوي

زما ترانه هغه ځنځیر دی
چې نه یې پیل شته نه یې پای
په هره کړۍ کې یوه ترانه ده
د ټولو لپاره یوه ترانه

راځې چې د ټول انسانیت لپاره
ترانه ووایو
ترانه هغه کوتره ده
چې د بیاموندنې لپاره الوزي

ketabton.com - The Digital Library

ترانه هغه کوتره ده
چې د ځالې په لټه ده
خوشې کېږي، وزرې وهي
چې پرواز وکړي، پرواز!

ketabton.com - The Digital Library

## کوترې غواړم درته ووایم

کوترې غواړم درته ووایم
چې یوازې یم
ته راته ګرانه یې
ژوند مې پای ته رسېدلی
ځکه رانه ډېره لېرې یې
ای کوچنۍ کوترې
غواړم ودې وینم.

که ځان هرڅومره کلکوم
خو له هر یاد سره دې ژاړم
په ظاهره قهرېدلی ژاړم
خو له دننه بېحده سوځېږم
ای کوچنۍ کوترې
غواړم ودې وینم.

لکه د غوز د ونې په شان
لکه د غونډۍ د تیږې په شان

ketabton.com - The Digital Library

انسان کولای شي انسان ووسي
کله چې سیده په لاره ځي
ای کوچنۍ کوترې
غواړم ودې وینم.

ځنګه یې له خپلې اروا رایستلی شم
څه چې راله دننه یې تور کړی
تل باید رهي د دباندې په لور
د خپلې اروا د ساتنې لپاره
ای کوچنۍ کوترې
غواړم ودې وینم.

ketabton.com - The Digital Library

## د ڦُلبې ماشوم

د جغ تر لاندې زېږېدلی
هومره ښکلی نه،
څومره چې تحقیر شوی
ورمېږ ورته ځاري هغه جغ
چې د ورمېږ لپاره یې جوړ شوی
ژوند پیلوي
مرګ پیلوي
له پیله مرګ
تر پایه مرګ!

د خپل مور پوستکی په جغ راجګوي
نه پوهېږي چې څنګه خپل کلونه تېروي
خو پوهېږي چې خوله تويېول د ډوډۍ لپاره
څومره ضروري ده د بزګر لپاره

دا وړی ماشوم
د یوې غټې غنې په شان ما سخت دردوي
خړپړ ژوند یې زما څېرې ډوله اروا راپاروي

ketabton.com - The Digital Library

نه پوهېږي چې څنګه خپل کلونه تېروي
خو پوهېږي چې خوله تويېول د ډوډۍ لپاره
ضرورري ده د بزګر لپاره

دا ماشوم به څوک وژغوري
چې د اوربشې د دانې په شان کوچنی دی
له کومه به د څټک ګوزار راشي
چې وشلوي دا د جلاد ځنځيرونه
ښايي د هغو دیاره‌مارو کارګرو له زړونو راشي
مخکې له دی چې لويان شي
وو د کروندو د قُلبې ماشومان.

ketabton.com - The Digital Library

**«مولینا» ته نور نه ځم**

د «سان بورخایوکا»
د «سامورنګو سا»
د غچ اخیستو لپاره تګ
آه،څه خوند کا!

مولینا ته نور نه ځم
ځکه تل په متروکو وهل کا

«توماسا» وخوړل
«پاسکال» وځنبل
دېرش یې ماشومان
مسیحا،
ځومره بربریت
ټول یې مرییان
له خپلې خوښې پرته
له دې ډاره چې ارباب به یې ووهي په متروکه.

ketabton.com - The Digital Library

ځه!
کوتي* ځه!
دا د کوتي شيطاني ده
چې په لاره نه ځي
د دې خرگي لپاره به ارباب
ما په متروکو ووهي.

تورو بېوزلو څه رنځونه چې ونه گالل
خواره يې ببخي لږ کار يې ببخي پرېمانه
تر هغه چې ښاغلی «رومن کستيلا»*
ورته له اسمانه مقدسه آزادي راوړه.

* د خرې بچې چې خرگې هم ورته ويل کېږي.

*رومن کستيلا په ۱۷۹۷ کال په پيرو کې وزېږيد او په ۱۸۶۷ کال په چيلي کې ومړ. کستيلا په ځوانۍ کې د اسپانيوي ښکېلاکگرو په ملاتړ جنگېده، خو کله چې هېوادپالو چيليانو هغه ونيو، د خوزه دی سان مارتين او د سيميون بوليوار تر څنگ د اسپانيوي ښکېلاک په وړاندې په اتلوالۍ سره وجنگېد. بيا چې قدرت ته ورسېد د خلکو د هوساينې لپاره يې ډېر کارونه وکړل. رومن کستيلا د تورپوټکو مرېيتوب ختم کړ او د هنديانو پر سر چې کومه ماليه اخيستل کېده، هغه يې هم بنده کړه. پ.ژ

ketabton.com - The Digital Library

## د برېښ سيمې کورونه

د برېښ سيمې کورونه
له کټارو، له انګړونو سره
له ښکلو ګراجونو سره
د «پهژوو»* ګاړو په انتظار

هلته ګلابي، شين
هلته اسماني، سپين کورونه
ټول له ځلاندو موادو جوړ دي
د برېښ سيمې کورونه

د کورونو هستوګن
موسکا پر شونډو، يو له بل سره ګوري
ټول له يو بل سره سترو پلورنځيو ته درومي
په هر کاله کې يې تلويزيون لګېږي

هتله د غاښونو ډاکټران، هلته تاجران

*يو ډول موټر

ketabton.com - The Digital Library

هلته د جايدادونو مالکان، هلته قاچاقبران
هلته وکيلان، هلته اربابان
هلته ټول ګران‌بيه جامې په ځان

دوی قطعې کوي،
«ډرای مارتينی»* څښي
ماشومان يې وينښته لري زېړ پر سر
له زېړ سرو ماشومانو سره يوځای
د ليسې په لور درومي.

د پلار نيازبين زوي
بيا پوهنتون ته ځي
خپل ستونزمن وخت پيلوي
ټولنيزې پېچلتياوې پيلوي.

هغه په «اوستين مينی»**کې سپور سګرېټ څکي
له بمونو سره لوبېږي، له سياست سره لوبېږي
جنرالان ترورو‌ي
او د تبه‌کارانو د ډلې غړی کېږي.

د برې سيمې کورونه

*يو ډول الکولي څښناک
**يو ډول موټر

ketabton.com - The Digital Library

هتله د غاښونو ډاکټران، هلته تاجران
هلته د جايدادونو مالکان، هلته قاچاقبران
هلته وکيلان، هلته اربابان
هلته ټول گران‌بيه جامې په ځان.

ketabton.com - The Digital Library

## نه «چیچا» نه «لیموناد»*

رانږدې شه
چېرې چې لمر تود دی
که عادت يې چې وځرخې راوځرخې
چېرې چې کچالان سره کېږي
او هيڅ زيان ونه وينئ
نو ته هيڅ هم نه يې
نه چيچا يې، نه هم ليموناد
ته خپل وخت په بُنګېدلو تېروې
او د سامبا لعنتي نځا دې وقار.

دا مېلمستيا وخته پيل شوې
اور يې لا تودېږي

---

*« نه چيچا، نه ليموناد» چې په عاميانه اصطلاح کې ورته نه خوږ نه تريو ويلې شوو، په اسپانيوي ژبه کې د هغه چا لپاره کارول کېږي چې تصميم نشي نيولی يا هم د تصميم نېولو لېوالتيا نلري. چيچا د لاتيني امريکا يو ډول ځښاک دی او د چيلي په محاوروي ژبه کې د امريکې ځښاک ته کارېده.

خو له سياسي پلوه، وروسته له دې چې سالوادور آلنده د چيلي د ولسمشر په توګه انتخاب شو، رسنيو د هغه پر ضد سخت کمپاين چلوو. دا رسنۍ د چيلي نبي اړخي اليګارشي او يا هم د بهرنيو پانګوالو په لاس کې وې. د هغه وخت کوچنۍ بورژوازي دا تبليغات په مخه وړل، چې د ويکتور خارا د دې تراني موخه هم همدا د کوچنۍ بورژوزاۍ طبقه ده. پ.ژ

ketabton.com - The Digital Library

ته چې مخکې له ټولو بې‌علاقه وې
اوس غواړې د ټولې نڅا مشري وکړې
له رذیل انسانه یو بوي هم نه ورکېږي.

ته هیڅ هم نه یې
نه چیچا یې، نه هم لیموناد
ته خپل وخت په بُنګېدلو تېروې
او د سامبا لعنتي نڅا دې وقار.

ګوره ته هیڅ هم نه یې
نه چیچا یې، نه هم لیموناد
ته خپل وخت په بُنګېدلو تېروې
او د سامبا لعنتي نڅا دې وقار.

که ته نورې مېلمستیاوې غواړې
لومړی باید کار وکړو
چې هر څه د ټولو وي
چینه د ټولو لپاره
ډوډۍ د ټولو لپاره
ملګرتیا د ټولو لپاره
که نه یې منې
دا نو ستا ستونزه ده نه د بل

ketabton.com - The Digital Library

هر څه مخ په وړاندې درومي
او د راستنېدلو نيت نلري

ته هيڅ هم نه يې
نه چيچا يې، نه هم ليموناد
ته خپل وخت په بُنگېدلو تېروې
او د سامبا لعنتي نڅا دې وقار.

واوره ته هيڅ هم نه يې
نه چيچا يې، نه هم ليموناد
ته خپل وخت په بُنگېدلو تېروې
او د سامبا لعنتي نڅا دې وقار.

له څنډو سېزل، ودروه!
راشه د خپلو بدو درملنه وکړه
زه تر «پانچو»* لاندې کوم خنجر نلرم
که بيا هم بويېول کوی
نو هر څه به دې مصادره کړو
ستا وسله
ستا ژبه
ستا هر څه به مصادره کړو.

---

*«پانچو» د سويلي امريکا يو ډول وړين کالي دي، چې د چپنې پر ځای يې اغوندي.

ketabton.com - The Digital Library

## د «رامونا پارا» غونډ*

ای د چیلي بچیه
ته د نوي غونډ ځلا یې
د ښار لارې کوځې
ستا په رڼا راویښېږي
ستا د رسامۍ برس په خپله یوه ترانه ده
چې د اسمان شینوالی رسموي
هیواد
په رڼا
په مینې
په وروروليۍ ډکوي.

---

*د رامونا پارا غونډ د چیلي کمونست گوند د دېوال‌لیکنې غونډ و. دا نوم د دې گوند د رامونا پارا په نوم د یو غړي څخه اخیستل شوی دی، چې د ۱۹۴۶ کال د سانتیاگو د پلازا بولینس په ډله‌ایزه وژنې کې ووژل شو.دا غونډ په ۱۹۶۸ کال کې د چیلي د ځوانو کمونیستانو د شپږمې کنگرې د پرېکړه‌لیک له مخې رامینځته شو. لومړنۍ دېوالي نقاشیانې د پابلو نرودا په وړاندیز وشوې. کله چې سالوادور آلنده د چیلي د ټولټاکنو نوماند شو، دېوالي انځورتیا د هېواد گوټ گوټ ته پراختیا ومونده. دې نقاشیانو عامو او بېوزلو بزگرو او کارگرو پرگنو ته بېلابېل پیغامونه ورکول. پ.ژ

ketabton.com - The Digital Library

ای ځوانه ملګریه
ته خپلې هیلې ودانوې
د آزادۍ له سرې نارې سره
دېوالونه ړنګ کوی

ستا لاره
شپه پټوي
درد پټوي
ستا لاره
ډکه په لېوالتیا
ډکه په زړورتیا.

ته هلته غزېدلی پاتې یې
کوم ګل چې تا په خاورو کې کرلی
په وینو کې کرلی
راغوړېدلی
ترانې وایي اوس
ترانې وایي اوس
ملګرو،
مخ په وړاندې!

ketabton.com - The Digital Library

## اوبدونکې انجلۍ

غواړم «انا» درته ووایم
غواړم «خوانا» درته ووایم
غواړم «روزا»درته ووایم
غواړم ښایسته درته ووایم
ای قهوه رنګې تار ربشونکې
ای کوچنۍ شاه‌پرکې
ای اوبدونکې کارګرې.

ته د فابریکې برده
ته د ماشین برده
ته د کاري ساعت برده
ته د معاش برده
ای قهوه رنګې تار ربشونکې
ای کوچنۍ شاه‌پرکې
ای اوبدونکې کارګرې.

ketabton.com - The Digital Library

واوبده ای شاه‌پرکې د وړیو توپ واوبده
واوبده ای شاه‌پرکې برخلیک دې واوبده
وریشه* ای کارګرې د برخلیک تار دې وریشه.

* ریشل: وړۍ سنۍ کول

ketabton.com - The Digital Library

## اووه قفسونه

اوه قفسونه،
اوه کیلیانې
اوه سیندونه،
اوه دریابونه
اوه،
چې تا لېږدوي
اوه،
چې تا راولي
اوه،
اوه زما سیندونه.

پرېږدئ راشي
پرېږدئ راشي
پرېږدئ منډه کړي
پرېږدئ منډه کړي
زما اتل باید والوزي
زما اتل باید والوزي

ketabton.com - The Digital Library

يو اتل رارسېږي
يو اتل رارسېږي
پر اوه سيندونه ځغلي
واک پسې درومي
لاسونه خلاصوي
اوه قفسونه
اوه كيلياني
زړور اتل يې ماتوي.

ketabton.com - The Digital Library

## د واټونو وانبه*

څلور شتمن رذيلان
د واټونو پر اوښو وهي قدمونه
پر کارګرو مېرمنو وهي قدمونه.

د کانونو اربابانو پېرلی يوه روميانۍ ښځه
چې ورباندې تلې پيسې
چې هره اونۍ يې له بېوزلو کارګرانو غلا کوي.

باټېنګړ څه ګناه لري
په بوتې کې په آرامۍ ځنګېږي
بيا د دېوث يو زوي راځي
او په قوطيو کې کاراکاس ته لېږي

د جنت خدای به څه وخت پرېږدي

*دا ترانه د اسپانيا کورنۍ جګړې سره تړاو لري، چې د «کيلاپايون» چيلياېي ډلې د ويکتورخارا په لاربښوونې سره ويلې ده. دا ترانه په کروندو کې د کارګرانو د زېښناک او قحطي پر ضد ويل شوې ده. پ.ژ

ketabton.com - The Digital Library

چې «ترتیلا»* راوڅرخي
او بېوزلي ډودۍ وخوري
او شتمن ډک ځانونه په مدفوع کړي.

---

*«ترتیلا» یو ډول اسپانیایي مشهور خواړه دي. پ.ژ

ketabton.com - The Digital Library

## له بېدیاو راغلل

له بېدیاو
له غونډیو، له سیندونو راغلل
زړونه یې آزاد شول
روان شول

په مرګ پوهېدل
په دې پوهېدل
چې ډودۍ ډېره وچه ده

له بېدیاوو
له غونډیو، له سیندونو راغلل

د کانونو تاریخ،
د کلیو او ښارونو تاریخ
او زموږ انسانیت ورته ملګرو تشریح کړ
ارواوې یې له دې ټولې سپکاوۍ ولړزېدلې
او ګرده په ورورګلوۍ پوه شول.

معدنچیان او کب‌نیونکي

ketabton.com - The Digital Library

د هیلو ترانې پر شونډو
کار ته بیا ستانه شول

له تولې او ډهلونو سره
له اوسپنیزې شپېلۍ سره
د پیوستون لپاره ودرومېدل مخ په وړاندې
او داسې بذرونه یې وشیندل
چې ټول به ترې ثمر واخلي.

ketabton.com - The Digital Library

## د پوئرتو مونټ په اړه پوښتنې*

ستا لپاره، د هغه لپاره، ستاسو لپاره
پوښتنه کوم
ستا لپاره چې یوازې پاتې شوې
او د هغه لپاره چې مړه شو خو پوه نشو ولې

هو پوښتنه کوم د ټولو لپاره
د هغه سړي لپاره،
چې بې له کوم علته په وینو لت‌پت شو
د هغه لپاره چې مړ شو خو په دلیل یې پوه نشو
د هغه لپاره چې مردکیو یې سینه غلبېل غلبېل کړه
کله چې د خپل حق لپاره ودرېدلی و
چې پر دې خاورینې ځمکې ژوند وکړي

آه، څومره بې شرفه و
چا چې د دویشتلو امر ورکړ

---

* د چیلي په سویلي ښار پوئرتو مونټ کې کلیوالو یو ټوټه ځمکه ولکه کړه چې وربانديې ژوند وکړي. خو پولیسانو دا کلیوال په بېرحمۍ ووژل. دا ترانه لومړي ځل په سانتیاګو کې په هغه اعتراضي لاریون کې وویل شوه چې د دې جنایت د قربانیانو کورنۍ، په تېره بیا کونډې او ماشومان په کې موجود و. پرز زوخوویچ د دې جنایت په وخت کې د کورنیو چارو وزیر و. پ.ژ

ketabton.com - The Digital Library

چا چې د دې کرکجن قتل‌عام مخه نیولې شوه

آه پوئرتو مونټ

آه پوئرتو مونټ

ته ښايي موږ ته ووايې

ښاغلی پرز زوخوویچ

چې د بې‌دفاع ولس څواب دې ولې په ټوپک ورکړ؟

ښاغلی پرز خپل وجدان په تابوت کې ښخ کړ

او د سویل یو باران به یې هم لاسونه پرې‌نه‌منځي

هو پوښتنه کوم د ټولو لپاره

ستا لپاره چې ټول دې یوازې پرېښودل

د هغه لپاره چې مړ شو خو پوه نشو ولې

د هغه سړي لپاره،

چې بې له کوم علته په وینو لت‌پت شو

د هغه لپاره چې مړ شو خو په دلیل یې پوه نشو

د هغه لپاره چې مردکیو یې سینه غلبېل غلبېل کړه

کله چې د خپل حق لپاره ودرېدلی و

چې پر دې خاورینې ځمکې ژوند وکړي

آه پوئرتو مونټ

آه پوئرتو مونټ

ketabton.com - The Digital Library

## د کوبا لپاره

که د کوبا لپاره مې ترانه ویله
داسې ترانه مې ویله چې آواز یې لرلی
ـ انقلابي اواز
گام په گام
لاس په لاس
زړه په زړه
داسې چې له ورور سره غږیږی

که راته اړتیا لرئ، زه چمتو یم
بې له دې چې لاره مو تعقیبوم
نور څه غواړئ چې ډالۍ یې کړم
تلپاتې دې ستاسې انقلاب وي
ملگری قوماندانه!

که غواړئ له **مارتي** او **فیډل** سره آشنا شئ
زه کوبا ته ځم، کوبا ته، کوبا ته
که غواړئ د چه‌گوارا لاره وپیژنئ
زه کوبا ته ځم، کوبا ته، کوبا ته

ketabton.com - The Digital Library

که غواړئ بې له کوکاکولا **رام*** وڅښئ
زه کوبا ته ځم، کوبا ته، کوبا ته
که غواړئ د ګنیو په کروندو کې کار وکړئ
زه کوبا ته ځم، کوبا ته، کوبا ته
لکه لامبوزنې پانې په کوچنۍ بېړۍ کې
زه کوبا ته ځم، کوبا ته، کوبا ته

که د کوبا لپاره مې ترانه ویله
داسې ترانه مې ویله چې آواز یې لرلی
ـ انقلابي آواز
ګام په ګام
لاس په لاس
زړه په زړه
خو ښنګه چې زه ګیتار غږوم نه **سون****
او ګیتار مې اوس په انقلابي جګړې کې ګډون لري
نو بیا د سون په شان دی

---

*رام یو ډول څښناک دی چې د ګنیو له عصارې جوړېږي

** کوبایي سون، د کوبا د موسیقي یو مهم او اغېزناکه ډول دی چې د افریقایي او اسپانیوي دودیزه ترکیب لري. سون د کوبا فرهنګي او انقلابي سمبول ګڼل کېږي. پ.ژ

ketabton.com - The Digital Library

چې **گرینگو*** په ګډا کوي

موږ **ګواخیرو**** نه یوو

موږ د **سیرا ماسترا غرونه** په خپله انتخاب کړي

که غواړئ د چه‌ګوارا لاره وپېژنئ
زه کوبا ته ځم، کوبا ته، کوبا ته
که غواړئ بې له کوکاکولا **رام** وڅښئ
زه کوبا ته ځم، کوبا ته، کوبا ته
که غواړئ د ګنیو په کروندو کې کار وکړئ
زه کوبا ته ځم، کوبا ته، کوبا ته
لکه لامبوزنې پانې په کوچنۍ بېړۍ کې
زه کوبا ته ځم، کوبا ته، کوبا ته

---

* په لاتیني امریکې کې gringo اکثراً پردی او بېګانه ته وایي، په تېره بیا امریکاییانو او یا انګریزي ژبو ته.

** دا اصطلاح ساده کلیوالو یا بزګرانو ته ویل کېږي چې کله په سپکاوی او کله هم په درناوی ویل کېږي. دلته موخه دا ده چې موږ نه د ساده توب او بې پوهۍ له امله بلکې په خپله خوښه او د پوهې له کبله د مبارزې او انقلاب او مقاومت لاره غوره کړې ده. پ.ژ

ketabton.com - The Digital Library

## زه پاتې کېږم*

هېواد مې دربدر او تار په تار نه غواړم
د ستم د اوو تېغونو په وینو یې لتاړ نه غواړم
پر نوي کور مې د هسک چیلي ځلا غواړم،
چې ودان مو کړي یو له بل سره

هېواد مې پاشېدلی نه غواړم
د جفا په اوو تېغونو یې لتاړ نه غواړم
هېواد مې ړنګېدلی نه غواړم

په دې ټاټوبي کې ټولو ته ځای شته
خو څوک یې چې زندان ګڼي
له دې وطنه لېرې خپلې نغمې دې کړي کوکارې

دې وطن ته همېش شتمن پردي وو
پرېږدئ چې میامي ته لاړ شي

---

*د ۱۹۷۳کال کې د چیلي نومیالي شاعر، پابلو نروډا د نړۍ له ټولو هنرمندانو وغوښتل چې په چیلي کې د فاشیزم او کورنۍ جګړې د مخنیوې لپاره یوځای شي. ویکتور خارا د پابلو نروډا په شعر د هغه غوښتنې ته د مثبت ځواب په توګه دا ترانه وویله.پ.ژ

ketabton.com - The Digital Library

د خپلو نازبينو ترورېانو خوا ته

هېواد مې پاشېدلی نه غواړم
پرېږدئ چې له دې ټاټوبي لېرې
شتمن خپلې نغمې کړي کوکارې
هېواد مې ړنګېدلی نه غواړم

په دې ټاټوبي کې ټولو ته ځای شته
زه دلته پاتې کېږم
د کارګرانو سره ترانې وایم
د نوي تاریخ ترانې
د نوي ټاټوبي ترانې.

ketabton.com - The Digital Library

## ګاډیوان

پر پستې خاورینې لار
ګاډۍ چغېدلې چغېدلې ده روانه
تېزه سیلۍ لګېږي پر شفتلو

ژوند مې له خاورې پرته بل څه نه دی
د دې لارې تېزه سیلۍ او چوپتیا
په کراتو شاته پرېږدم
له دوو غواګانو سره ځم راځم
ماښام له وریځو سره نخښېږي
غرونه په وینو رنګېږي
د ټېپوسانو ډله
د ګاډۍ پر سر روانېږي

کله ناکله پلونه مې ورکوم
زړه مې ناڅاپه غورځېږي
کله به مې ژوند پر خوښې ودرومېږي؟؟

د سیورو الوتل چوپیتا لا ژوروي
څنګه چې شپه په تررمه کې ډوبېږي

ketabton.com - The Digital Library

ګاډۍ چغېدلې چغېدلې روانېږي
زه هم د ځمکې زړه شکوم
خپلې هیلې په کې کرم
ژر کړئ ای تورو دوه غواګانو
چې سپېده‌دم راځلېږي.

ketabton.com - The Digital Library

## پړی

کله چې لمر ډوبېدو
بوډا مې پیدا کړ
د لونکوین په یوې تیارې جونګړه کې
په یوې ناداري جونګړه کې مې هغه پیدا کړ
کله چې په لونکوین کې لمر ډوبېدو

لاسونه یې،
سره له دې چې زاړه وو
خو پیاوړي وو
د پړي اوبدنې لپاره زیږ وو
کلک وو
خو د ښاروي له څرمنې سره مهربانه.

پړی لکه مار تاوېدو د غوز له ونې
په هرې کړۍ کې یې خپل ژوند
خپله ډوډۍ
اوبدله
څومره زمان یې په لاسونو کې پټ

ketabton.com - The Digital Library

ځومره زمان يې په ستومانه کتلو کې پټ
خو چا ورته لا ويلي نه وو:
کار مه کوه
نور دې بس دی!

سيوري راروان
د ورځې پر آخري وړانګو خپله لومه خپروي
بوډا کليمې اوبدي
چې په کې ښادي بنده کړي

له سوېله تر شماله
له غرونو تر سيندونو
طنابونو يې کړي سفرونه
خو بوډا  هېڅکله پوه نشو
چې دا واټن څنګه تشريح کړي

بوډا خپل ژوند په پړي کې ږدي،
چې د غوز له ونې تاوېږي
بيا به مرګ رارسيږي
په لومه کې به هغه راګيروي هم

څه پروا کا،
چې طنابونه ټينګ وي

ketabton.com - The Digital Library

تر ابده پایند وي
په کروندو کې د تور په شان خپاره شي
او بوډا کړي سترګې پټې

کله چې لمر ډوبېدو
بوډا مې پيدا کړ
د لونکوين په يوې تيارې جونګړه کې
په يوې ناداري جونګړه کې مې هغه پيدا کړ
کله چې په لونکوين کې لمر ډوبېدو.

ketabton.com - The Digital Library

## شا ته راګرځېدلی نشی

شا ته راګرځېدلی نشی
له تللو بله چاره نلری
مه پربېرده چې په دوکه دې ګنس کړي
درومه، تر پایه درومه

هغه تپ چې درسره مل دی
څوک یې رغولی شي؟
دا هماغه خچنه، لتاړه او خفتباره بېوزلي ده،
چې هڅه کېږي له پامه وغورځول شي
یو تریخ سیند
یو تور سیند
چې ښایي پاک شي

څومره باید ژوند وکړی
چې آزادي وګوری؟
غرونه د باد سینه شکوي
له کومه راځي، چېرې ځي؟
څومره کسان باید ووژل شي
چې آزادي وګوری؟

ketabton.com - The Digital Library

هغه اور چې دې سترګې پرانیزي
له کومه راځي، چېرې ځي؟
په مبارزه کې به ماته وخوری
که یوازې د وژلو لپاره وجنګېږی

مینه او رنځ
په یوازیتوب کې نغښتی
او په ټولو هغو تررمو کې
چې ښایي وړانګې دې ورباندې شېندلی وای

د مهربانۍ په لور منډه کوی
د لرې ډوډۍ غوښتنه کوی
دا یو تریخ سیند
دا یو تور سیند
چې باید پاک شي
له تللو پرته بله لاره نلری
شا ته راګرځیدلی نشی.

ketabton.com - The Digital Library

## تقریباً

ته تقریباً په ما مینه شوې وې
زه تقریباً په تا مین شوی وم
زما تورې انجلۍ مه ژاړه،
مه ژاړه.

که د تقریباً خبره نه وای
نو ما تقریبا له تا سره واده کړی و
زما تورې انجلۍ مه ژاړه،
مه ژاړه.

هغه دستمال دې چې راکړ
د څانګو تر منځ پاتی شو
زما تورې انجلۍ مه ژاړه،
مه ژاړه.

تېزه بوړبکۍ راغله
څانګې یې له ځان سره ویوړې
دستمال یې له ځان سره ویوړ
زما تورې انجلۍ مه ژاړه،

ketabton.com - The Digital Library

مه ژاړه.

کوچنی نقاشي شوی بوتل،
ډک په خوشبویه اوبو
زما توري انجلۍ مه ژاړه،
مه ژاړه.

په تا میینېدل اسانه
خو پرېدل دي دردناکه
زما توري انجلۍ مه ژاړه،
مه ژاړه.

ketabton.com - The Digital Library

## یو آه مې له زړه وتښتېد

یو آه مې له زړه وتښتېد
راته ووایه چېرې به وي
یوه آه مې له تنه وتښتېد
راته ووایه چېرې به وي

داسې ښکاري
چې شپه و ورځ د باران اواز اورم
بویه زما له تنه
یو آه اورم

خدای پامان زما د لونګو ښکلی ګله
چې غوړېدل دې پای ته رسېدلي
ته مقصر وی
چې لیدو ته مې رانغله هغه

کله چې پر تا مییښېدلم
اروا دې راله لېونې کړه
چا ته مه وایه
چې پر ما دې څه کانی وکړی.

ketabton.com - The Digital Library

## زما کوچنۍ کوتره

ای ناشُکرې،
له خوښۍ دې خوند ویسه
پرېږده زه ورنځېږم
یوازې یو ژوند لرم
له تا به یې نذرانه کړم

آه زما کوچنۍ کوترې
څومره دې ځاله درته گرانه ده
څومره دې ځاله درته گرانه ده

ای د اوبو پر مخ وړوکی ماتېستیو*
ای د مالوچو کوچنۍ غنچه
ای زما د زړه کیلي
له خوښۍ دې خوند ویسه
پرېږده زه ورنځېږم
یوازې یو ژوند لرم
له تا به یې نذرانه کړم

---

*ماتېستیو په لاتینې امریکې کې یو ډول دودیزه ښناک دی. پ.ژ

ketabton.com - The Digital Library

## سپوږمۍ همېشه ښایسته ده

د پلار خبره مې یادېږي
لکه په دېوال کې یو سُری
په چکړو رټه شوې بړستنې
له خځلو ډک انګړ
مور مې شپه و ورځ کار کاوه
له زګروا سره
له ژړا سره

د فرشتې او شیطان لوبه
د هغه ماشوم لوبه چې وبه‌نه‌زېږېږي
شمعې همېشه روښانه دي
سړی باید یوځه ته پناه ویسي
پیسې له کومه کړو
چې د ایمان لګښتونه پرې کړو؟

نه مې یادېږي چې له آسمانه دې
یو پرتمین محصول راولېدلی وي
یا مور مې هوسا ژوند کړی وي

ketabton.com - The Digital Library

یا پلار مې شراب پرېښيودلي وي
بيوزلي يې دومره ډارولي
چې ټول رنځونه او کړاونه زغمي
چې خپله بدمرغي په تصويرونو پټوي

سپوږمۍ همېشه ښايسته ده
لمر هر ماښام مري

غواړم ناره کړم
په هيڅ څه باور نلرم
يوازې ستا د لاس تودوالی زما په لاس کې
غواړم ناره کړم
په هيڅ څه باور نلرم
يوازې د انسان په مينه.

څوک د يو دربېدلي زړه دربا غلې کولای شي؟
څوک د هغه مېرمنې نارې خاموشولی شي چې ماشوم زېږوي؟
څوک يې خاموشولی شي؟

ketabton.com - The Digital Library

## بیېټا*

یوه ورځ مقدسه راهبه
د مینې په سیند کې رنځوره شوه
څوک چې ګناهکار و
یو اقرار اخیستونکی پادري و

د مقدسې راهبې له پادري سره مینه خوښېده
نه یې غوښتل چې بوټان، هغه غټ بوټان په پښو کړي
خوښېده چې د پادري زړې څپلۍ په پښو کړي
نه یې غوښتل چې کفن، یو لوي کفن ورته په تن کړي
خوښېده چې د پادري زړه عبا په تن کړي
نه یې غوښتل چې له یوې شمعې،
له یوې لویې شمعې سره شوګیر وکړي
غوښتل یې چې لنډه شمعه د پادري وي ورته روښانه

---

* La Beata د اسپانیې مایورکا ټاټوبي یوازینۍ مقدسه راهبه وه چې د مایورکا خلکو په کلتور او فرهنګ کې د ایمان، خضوع او سپېڅلتیا سمبول ګڼل کېده. پ.ژ

ketabton.com - The Digital Library

## کوچنی سګریټ

غواړم سګریټ وڅښم
شاید تنباکو ولرم
که وی نلرم، له کومه یې کړم؟
واقعیت دا دی
چې زه بېخي سګریټ نه څښم

هاهاها
مېینه یې راباندې
هاهاها
مېینه یې راباندې

غواړم سګریټ جوړ کړم
د تنباکو له پاڼو
څښم یې، پاتې یې غورځوم
څوک یې چې غواړي وادېخلي

هاهاها
مېینه یې راباندې

ketabton.com - The Digital Library

هاهاها

مینه یې راباندې

سهار چې له یخنۍ راپاڅېږم
یو اوږد سګرېټ بلوم
په بل سګرېټ مې مخ
تودوم

هاهاها

مینه یې راباندې
هاهاها

مینه یې راباندې

ketabton.com - The Digital Library

## له زاری څه ګټه؟

څه ګټه چې  زاري کړم اسمان ته
چې غواړئ ښخ مې کړی په ځمکه
ځمکه راله ډوډۍ راکوي
ځمکه مې خوله تویېوي

که دا ځمکه زما نه ده
او اسمان یوازې اسمان دی
نو څه ګټه له دومره خولې تویېولو
چې د خوړولو لپاره څه نلرم
یا د نشت برابر خواړه لرم

هر چېرې چې لاس بړدم
د لونګو ګلونه غوړېږي
ګلابونه غوټۍ کوي
یو په بل پسې یو څه رازرغونېږي
خو زما لاس ته څه نه رارسېږي

ketabton.com - The Digital Library

د غنمو وږي په کروندو کې دي
سره وږي د غنمو که وریبوو په ګډه
نو ډوډۍ به د ټولو سیوا شي.

ketabton.com - The Digital Library

## خط

راته یې یو خط راولیږه
په سهارني پُست کې
راته یې لیکلي وو
چې ورور دې نیول شوی
په بېرحمۍ یې بندي کړی په هتکړۍ
تړلی یې په ځنځیرونو
په واښونو یې راکاږلی

په خط کې د روبرتو د دستگیرۍ علت
له هغه اعتصابه ملاتړ،
چې پخوا پای ته رسېدلی و
که دا دستگیرۍ دلیل وي
نو عسکره درروان یم زه هم زندان ته

زه یم لېرې له وطنه
په تمه یم د خبر
خط راغلی،

ketabton.com - The Digital Library

په وطن کې مې عدالت نشته
ورې انسانان ډوډۍ غواړي
خو پوځیان یې په مرمۍ ولي

په دې جلبلی چلند سره
غواړي خپلې څوکۍ وساتي
څوک چې په لاسونو کې پکي لري
څوک چې نازکه څېرې لري
څوک چې کلیسا ته ځي راځي
خو د خدای فرامین هېروي

څه بې‌شرمي
څه بربریت
څه ښکاره خیانت
د ټوپکۍ شپېلۍ ګرځوي
د هغه چا په مخ
چې دفاع نلري
لاسونه یې دي تش
په سره سینه یې وژني

یو خط رارسېدلی
ځواب رانه غواړي
غواړم خپور دا خبر شي

ketabton.com - The Digital Library

د ټولو خلکو تر منځ
چې «لئون» يو قاتل دی

زه نېکمرغه يم چې ګيتار لرم
چې د زړه درد کړم فرياد
زه نېکمرغه يم چې نهه ورونه لرم نور
سربېره له بندي
چې ټول د خدای په مهربانۍ کمونيستان دي

ketabton.com - The Digital Library

## د سپو وحشتناکه داړنه پیلوي

د سپو وحشتناکه داړنه پیلوي
د قهوه‌ای رنګه ماشومانو وژنه
کاروان درومېږي
د سپیو ګله خوشې کېږي
چیلیان نابودوي
آه،
څه وکړو؟
څه وکړو؟
کاروان له سره پیلېږي
آه،
څه وکړو؟
څه وکړو؟

ټوپک په لاس
مکزیکي په نښه کوي
د خوب په حال کې
پانامایي وژني،
کاروان پیلېږي

ketabton.com - The Digital Library

آه،
څه وکړو؟
څه وکړو؟
چیلیان نابودوي
آه،
څه وکړو؟
څه وکړو؟

د وینې او طلا په لټه دي
د سانفرانسیکو لېوان ښځې وهي
جونګړې سیزي
کاروان پیلېږي
آه،
څه وکړو؟
څه وکړو؟
چیلیان نابودوي
آه،
څه وکړو؟
څه وکړو؟

تو لعنت پر وخت
تو لعنت پر طلا،

ketabton.com - The Digital Library

چې له لاسه مو ورکړه
ولې موږ د خپل والپارایسوی* راغلو؟
کاروان پیلیږي
آه،
څه وکړو؟
څه وکړو؟
چیلیان نابودوي
آه،
څه وکړو؟
څه وکړو؟

---

* د چیلي یو بندري ښار دی چې د سانتیاګو شمال لوېدیځ په ۱۲۰ کیلومتري کې واقع شوی دی.پ.ژ

ketabton.com - The Digital Library

# د ویکتور خارا ځینې عکسونه





ketabton.com - The Digital Library



ketabton.com - The Digital Library






ketabton.com - The Digital Library





ketabton.com - The Digital Library

# وطن

*له کودتا څلور ورځې مخکې له ويکتورخارا وپوښتل شول، وطن څه ته وايي. ده لاندې ځواب ورکړ. د ويکتو خارا دا څرګندونې د «فولکوريست د وطندوستۍ د ارزښتونو په اړه خبرې کوي» تر عنوان لاندې په «ريتمو» مجله کې د ۱۹۷۳ کال د سپټمبر په ۲۵مه خپرې شوې.*

وطن، يعنې له مېرمنې سره، له ماشومانو سره او له کور سره مې مينه. وطن له هغه خاورې سره مينه چې راسره يې د ژوند لپاره مرسته کړې؛ وطن له تعليم او کار سره مينه، له نورو سره مينه چې د ټولنيزې نېکمرغۍ لپاره کار کوي. وطن له عدالت سره مينه، چې د انسان د وقار او عزت د تعادل د وزلې په توګه کار وکړي. وطن د هوسا ژوند لپاره له سولې سره مينه؛ له آزادۍ سره مينه، نه له بې‌بندوبارې آزادۍ سره، نه د هغه کسانو له آزادۍ سره چې له نورو تغذيه کوي، بلکې د ټولو وګړو له آزادي سره؛ آزادي د دې لپاره چې زه او اولادونه مې شتون ولرو. وطن يعنې چې کورونه، سيمې، ښارونه، کلي او ټول هغه ځايونه، چې زموږ د برخليک د شکل ورکولو مسئوليت په کې نغښتې، د خپل او پردي له جغه آزاد وي.

ketabton.com - The Digital Library

## زما ترانې

زما ترانې او سندرې، له عاشقانه ترانو نیولې بیا تر اعتراضي او ښادمنوونکو او انقلابي ترانو پورې ټولې د پرګنو، یعنی د چیلي د کلیوالو او کارګرانو د ژوندانه په واقعیت کې ریښې لري. دا ترانې او سندرې زما د ژوندانه ښکارندوی هم دي، ځکه زما ژوند زما د خلکو او د لاتینې امریکې د پرګنو له ژوند سره تړاو لري، له هغه ولسونو سره چې د آزادي لپاره مبارزه کوي.

ویکتور خارا

ketabton.com - The Digital Library

**ښه اوازونه نه تري‌تم کېږي**

پيټ سيګر*

ويکتور خارا د چيلي يو خورا مهم ولسي سندرغاړی او ترانه جوړونکی و، چې په ټولې مينې او لېوالتيا سره يې خپل هنر د آزاد او پرمختللي هېواد د ودانولو لپاره وکارو او د مرګ تر درشله يې په دې ډګر کې مبارزه وکړه. وروسته له هغه چې د جلاد پينوشې ډلې د امريکې متحده ايالتونو په لاسوهنی سره د وژلو او تاوتريخوالي په مرسته په چيلي کې حکومت ونيو، ويکتور د ۱۹۷۳ کال د سپټمبر په يولسمه ونيول شو او له نيول‌کېدو وروسته ډېر زيات وربړول شو او په پايله کې د چيلی لوبغالي کې د پينوشې د جلادانو د موزو تر لاندې يې ژوند پای وموند. د هغه اتلوالۍ او زړورتيا د لوبغالي له ډارځپلې فضا څخه دباندې له يوې خولې بلې خولې ته خپره شوه.

اوس، څنګه چې په خپله هغه پوهېدو، موږ هم پوهېږو چې د ويکتور خارا په شان سندرغاړي او ترانه ويونکي د نېکمرغه هنرمندانو په ډله کې دي، ځکه ټولو ته روښانه دي چې د ښه اوازونو تري‌تمول ناشونی ده.

اوس، ويکتور خارا د تاراس شفچنکو (اوکراين)، رابرت برنز (سکاټلنډ)، جوهيل او وودي ګاتري (امريکا) په شان اتلانو په کتار کې دی چې تراني يې د نړۍ د ولسونو په زړه او يادونو کې ژوندې دي. تر هغه چې

---

* نوميالی امريکايي سندرغاړی

ketabton.com - The Digital Library

موږ یې ترانې لولو او اورو او تر هغه چې د خارا مېړانه او زړورتیا د نړیوالو الهام بخښوونکی وي، هغه به هېڅکله مړ نشي.

پیټ سیګر، فبروری ۱۹۷۶

ketabton.com - The Digital Library

## د فرانسوي کارتونيست پلانتو کاريکاتور



ketabton.com - The Digital Library

## د ویکتور خارا په یاد

میکائیل ویه*

ډېر دي داسې کسان
چې د ځواکمنو مخې ته پر خاورو رغړي
قدرتمندانو ته لاس په نامه درېږي
ډېر دي داسې کسان
چې د واکمنو د دسترخوان د پوټسکي خوړو لپاره غوړه‌مالي کوي
خو تا خپله لار وټاکله
تا د ولسونو لپاره ترانې وويلې
تا د ځواکمنو ژمنو
تا د واکمنو گواښونو ته ارزښت ورنکړ

هو، ویکتور خارا!
تا د آزادۍ لپاره د بندیانو د زړه تنگې کلیمې بیان کړې
د هغو ستمځپلو کلیمې دې بیان کړې،
چې په راتلونکي باورمن دي
په هغه راتلونکي چې قدرت یوازې د ولسونو وي

---

* یو سویډني سندرغاړی او ترانه ویونکی

ketabton.com - The Digital Library

تا د هغو کسانو هیلي قوي او زړورې کړې
چې د ځواکمنو د موزو لاندې ژوندی کوي
تا د اقلیتو شتمنو په وړاندې
یوازې،یوازې د خپلې کرکې اواز اوچت کړ.

که راتلونکی د هغه ونې په شان دی
چې په ځمکه کې مو کرلې
که د هغه نازکه او رژېدونکې سره ګل په شان دی
نو ځانونه باید په وسلو ښه سمبال کړو
چې له بېوزلو دفاع وکړو
باید د هغو کسانو په وړاندې له بېوزلو ملاتړ وکړو
چې غواړي هر څه چې سر راپورته کوي او راغورېږي وځپي.

بیچاره‌ګان وایي چې مرګ د ټولو حق دی
خو سمه به دا وي چې ووایو:
هغه شان به مروو څنګه مو چې ژوند کړی
که معمولي ژوند مو کړی وي
مرګ به مو هم د بڼکۍ په شان سپک وي
او که د خپلو وګړو لپاره ومرو
نو مرګ به مو هم د دېرې په شان درونډ وي.

ویکتور خارا!
ستا ترانې به د کانونو په کرلېچونو کې انګازې جوړې کړي

ketabton.com - The Digital Library

او د رسیدلو میوو په شان به د کروندو له ډکو اونو وشکول شي
او د غنمو د غندلو په شان به د ژوندانه په غنمزار کې
هر لورې ته وشیندل شي
او په اوبو کې به د کبانو په شان د کب نیونکو په لومه کې ولوېږي.

هو، ویکتور خارا!
ستا ترانې به هېرې نشي
له یوه گیتاره به بل گیتار ته
له دې ښاره به بل ښار ته
او له دې ټاټوبي به بل ټاټوبي ته والوزي
په اوږدو شپو کې به د بیده کېدو لپاره لالایي شي
او کله چې ورځ راغږېږي
نو د بریالیتوب په لاره کې به له موږ سره یوځای وي
هو،
ویکتور خارا!

ketabton.com - The Digital Library

## ویکتور ته ترانه

خورخه کولون، هوراسیو سالیناس*

ستا اواز غنم
ستا اواز جوار
د بزګر لاس
د مس، ډوډۍ او سکرو اروا
د وخت او لمر اولاد
ستا ترانه د اوسپنې یو ګل
د بېشمېره ولس فریاد
د کارګرانو په موټې کې وسله
د شمال او سوېل باد

ته د زرګونو نورو سره ولوېدلی
کله چې درد وزېږېد
لور او څټک دې په زړه کې
د ژوند سره وینه دې وبهېده

* دا دواړه د چیلي نومیالي کمپوزران او موسیقي پوهان دي، چې په ۱۹۷۵ کال کې دا ترانه ویکتور ته وویله.

ketabton.com - The Digital Library

د همدې لپاره خلک به تا
د خپلو رڼاو  په باغونو کې پالي
ته به د مبارزې او مينې جرس يې
ته به د چيلي سرود يې.

ketabton.com - The Digital Library




ترانه د ترانو لپاره نه وایم
یا د دې لپاره چې ښه اواز لرم
ځکه یې وایم،
چې ګیتار مې احساس لري،
فکر لري

ځکه یې وایم،
چې ګیتار مې خاورین زړه لري
د کوچنۍ کوترې په شان وزرې
لکه سپېڅلې اوبه
پرتم او ویر سپېڅلی کوي.

Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*